10

2 - JAN 17
Copy ____ 1958

set. 7, 1957

کابل

پرله‌بسی گڼه ٤٤٠

د ۱۳۳٦ ش کال د سنبلی (۱۰) ۱۳۷۷ ق کال د صفر (۱۲) د ۱۹۵۷ ع کال د ستمبر ۷

معزز و حاضر ینو او ...
افتتاحیه و ینا
دمشاعري دمشر و ینا
ځان غـو لوم
غزل
دپښتنو هیواد
د سنګ شکن بر خه
دپښتو خبري
د مزدور غږ
د پښتون غمه ! !
صیاده ! !
وګټه پښتونستان
غزل
دآزادۍ شمال ته
قسم
داسی صبا
پښتنی همت
پارول
پښتا نه څه نه منی
صورت حال
دزړه آواز
د یو محکو پښتونستانی خاطره
دا فغان برم
بین المللی
افتتاحیه و ینا
داستا د حمزه سوانح
تو لنه
ضرورت دی دملی...
نهنګ

ښاغلی حمزه شینواری

د پشتون ملت ناره

اوس که څو د ژوند په لار کښې بې درک یم
پاتې شوی سنګ میل د دې سړک یم

که هر څو یم جوادتو را توغ کړی
خو بیا هم دید خواها نو د ملا څک یم

ر پیدلی می بانهه نه دی له لمره
اوس ئې حیف په ژوندانه که ښا پیرک یم

د خپل ورور سره خو دی می غلطی ده
زه پخپله خپل وجود اره تندک یم

د قلم نیلی می ځغل کوی اسمان ته
څه شی زه که نه عرب او نه اوزبک یم

د ادب په خوشبو یې می غلط مشه
په معنی کښې داسې کلک لکه مښکک یم

و دوستانو ته یم نرم د اوبو نه
و دیښنه ته له فولاده سوا کلک یم

چه ز ما پناه ته راغی میده نه شو
دا هستی که وی میچن زه ئې تیرک یم

شجاعت زما په خټه کښې اخښلې
په سخا کښې د حاتم نه بهترک یم

په ظاهر کښې به ښکاره در ته ښکار یږم
په باطن د آئینې په شانې ډک یم

چا په نقل او په صهبا به خراب نه شم
زه ځائې په طبع تریو لکه نمک یم

دا خواره وار ه ویښته به دی را ټول کړم
ای دا من ناوی زه دی سر پیچک یم

یمه کان د پیر زوئی د جوهرو
په اخلاص او سخاوت کښې جګدلک یم

نا کره کړمه کره چه ما ته راشی
زه هم تیږه د پارس او هم محک یم

طوفانونه که څو ډیر وو راغله تیر شول
زه تر اوسه خپل اختیاره د خپل وک یم

تل ئې زه د بې ننګۍ داغو نه پټ کړم
زه و مخ د ایشپاته تر یو زک یم

د ګرداب غوندی چه ورک شم په آمو کښې
د چپې غوندی راپور ته په اټک یم

و پریشان ته یم خندان لکه د ګلو
خو چه بلوسه کړی هغو ته پول پولک یم

زه د ګل په حیثیت کښې بو وجود یم
که « شنواری » افریدی او که خټک یم

(۲۷ کال) (۱۰) گنه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا ، الفت ،

مسئول مدیر م، د، « ژواك »

پته: - کابل: نادر پښتون وات د پل خشتی د پله مقابل د تیلفون نمبر ( )

د پوشکین له آثارو څخه

دیادگار ماڼی

ماڼۍ می جوړه کړه .

خود اسی ماڼۍ چه په لاس نه ده جوړه شوی .. هغی ته دخلکو دتګ لاره واښه پټولای نشی، دا ماڼۍ دسکندر باچا تربرج ډیره لوړه ده

* * *

زه بیخی نه مرم نه ...

که څه هم تن می خاوری شی ،

خوروح له فنا فارغ اوپه یوه قیمت بها تنظیم کښی پاتیږی .

زه به تر هغه مشهور پاته یم ، څو چه تردی اسمانو رالاندی حتی یو شاعر هم ژوندی وی .

* * *

توله لویه روسیه به په ما خبره سی ...

زمانوم به په مهربانۍ سره اخلی ،

په هره ژبه چه وی ...

* * *

دډیری زمانې پوری به ددی جهان پرخلکو گران یم داځکه چه !

په ښو خبرو می په انسان کښی دښه والی حس راویښ کړ .

د ستم په دی پیړۍ کښی می آزادی وستایله، او بر بې وزلو می د احسان غوښتنه وکړه

* * *

ای زما الهامه ! د خدای دفرمان مطیع اوسه ، نورنومه دچا له آزاره بیریږه چه تاته به ئی در ورسوی ، اومه له چا څخه دویاړنی د گلو د گیډیو هیله کوه ،

واه واه - او - بهتان ، دواړه په بی قیدانه ډول اروه .

او د ناپوه سره بحث مه څیړه !!

(دسپین تمان ترجمه)

ښاغلی پوه‌خان محمد ایوب خان

معزز و حاضرینو او گرانو پښتنو ورونو - السلام علیکم!

دغه‌دی نن بیا دپښتونستان دورځی په‌مناسبت په‌ډیر اهتمام او همدردۍ ډك مجلس منعقد دی و کوم ته‌چه‌مونږ پښتونستانیان باید دتفریح او هوس په‌ستر که ونه گورو - ولی چه زما په‌عقیده دا مجلس و مونږ ته دغور او فکر کولو یوه اشاره او موقع ده ددی دپاره چه تېر کال مونږ په اجتماعی یا انفرادی طور د خپل قومی مرام او مقصد په‌خاطر څه قدر زحمتونه، څه قدر قربانۍ او څه قدر خدمتونه کړی دی - نو هر چا که څه کړی وی هغه حق لري چه هم خوشحالی و کړی او هم فخریه او چا که دبی حسۍ په عالم کښې ټول کال هیڅ نه وی کړی هغه دی خدای و بخښی - او چا که داحساس حال باوجود څه کولای نه‌شوی - دهغو دی خدای وسیله و کړی -

زما گرانو ورونو! وائی چه پاکستان په ټولې دنیا کښی واحد وسیع او عریض اسلامی جمهوری مملکت دی، وی به مگر دپښتنو او بلوڅانو دپاره شاید نه - ولی مونږ وینو چه دغه پراخی او وسعت دپښتنو او بلوڅو دپاره دپل صراط په شان داسی تنگ او نری و، - چه په لږ حرکت او عمل ئی مشران دجیلو او قیدو جهنم ته وغورځول شی - او هر څوك چه دلږ او ډیر سیاسی شعور مالکان وی هغه یا خو نظر بند شی یا زبان بند، یا پا بند شی او یا قلم بند - هم دغه رنگ ئی هغه قومی اخبارونه او مجلی چه دصحافتی آزادۍ په لحاظ ئی اول هم دوجود او عدم وجود څه فرق نه و، په معمولی بهانو او عذرو د پبلك سفتی اکت دبی پناه زد په وجه دهمیشه دپاره دمرگ په خوب بیده شی - نو ځکه نور قومونه که ددغه پراخ مملکت داسلامی نور او جمهوری نعمتو څخه دتمتع حاصلولو په شکرانه کښی خوشحال او خندان وی خو وی به - مگر نه پوهیږم چه پښتون په څه خوشحال او مسرور شی - شاید په دی چه شکر دی تر اوسه دشوپرکانو په شان سر کښته او پښی لوړی په څاگانو کښی ځړول شوی ندی.

زما گرانو ورونو - دپښتنو دمعنوی مرگ او دهمیشه دپاره ددغه قوم دسیاسی فاتحی اخستو په خاطر چه کوم اهم قدم واخستل شو - هغه دسند پنجاب - پیښاور او بلوچستان دصوبو څخه دیوی صوبی جوړولو هغه سکیم ؤ کوم ته‌چه په مروجه اصطلاح کښې یو یونټ وائی.

زما ورونو - تاسو ته معلوم ده - چه دمسلم لیگ لېډرانو دیوه یونټ دباغ دا موجوده نقشه تجویز او ابتداء کړه مگر دمزیدی کامیابۍ او آبیارۍ وظیفه ئې پر ذمه واخیسته دریپلیکن پارټی رهنمایانو - دوی به ویل او اوس هم وائی مگر په یو څه نوی آواز او کښتو ستر گو چه دا تجویز دجهان بینۍ او حکم فرمائی یو داسی اسلامی او الهامی نقشه ده، چه پکښی ټول او سیدونکی

به بلا امتیاز عقیده او مسلك ،
بلالحاظ پښتون او غیر پښتون
دصوبائی تعصب څخه خلاص -
انتظامی پیچیدگی لږ ، اومالی
اخراجات به دومری کم شی چه
بویونټ به څه وی یو داسی باغ
عدن به وی چه یکښی به هم هوائی
فردوس وی او هم کیفیات -
او دتماموا وسیدنکو دهرخواهش
تکمیل اودهرهوس پوره کیدل
به محض دستر گو په اشاره وی
نه به دحرکت تکلیفونه وی او نه
به دعمل زحمتونه - گویا نه
به قوم وی او نه به دقومیت ناری
نه به قومی ژبه وی او نه دهغی
دتحفظ تشویشونه ، تول به دپاکستان
احرام تړی په دغه به مست او سرشار
وی چه مونږ پاکستانیان یو -
نو پردغه بنا به دوی تلقین کاوه
مگر په داسی تحکمانه انداز
چه ددغه اسلامی سکیم په
شا زول کښی عقل ارائی کول
او ایمان راوړو کښی دهرقسم
تذبذب اظهار زمونږ په جمهوری
قانون کښی دکفر مرادف اود
هرقسم سزا او تعزیر مستوجب
گرزیدل دی - دادپښتنو مشرانو
بدبختی گنی او که خوش بختی

چه دیوه یونټ مینه اومفروضه
فردوسی نعمتو او کیفیتو دتجربی
اومشاهدی کولو پیش ئی دانعری
شروع کړی چه مونږ داسی
یوه نقشه ، داسی یو باغ - او داسی
یو کور چه یکښی نه پښتون وی
او نه پښتونولی - نه پښتونستان
وی او نه پښتون خواهی که جنت
هم وی په دوزخ کښی ئی
داچولو قابل گنو .

زما گرانو ! دیوه یونټ
دمخالفینو او حامیینو په مابین کښی
داصرار او انکار هنگامی جاری
وی - چه دیونټ پرباغ یو کال
تیرشو - مسلم لیگ او دریپبلکن
پارټی ئی دحاصلو پرتقسیم په
کراچی کښی جمع شول -
مسلم لیگ ویل چه دیونټ سکیم زما
ددماغ اوسیاستدانی یو داسی
فقید المثال شاهکار دی دکوم
پربنا چه دفوقیت حق باید وما ته
راکول شی او ریپبلکن پارټی
دعوه درلوده چه ددغه باغ دآبیاری
او کامیابی دیاره چه تمام کال
دحقیقت برخلاف او دضمیر خلاف
کوم کوم دلائل ما تراشلی
او ویلی دی - پخپله یو داسی
فوق العاده وظیفه ده - او یو داسی

فوق العاده مزاج ئی غوښت چه
سواله ما دانسانانو په بله تولنه
پوره کیدل خو پریږده تصور ئی
هم ممکن نه ؤ نو لحکه د اولیت
امتیاز زما حق دی ، ددواړو پارټیو
موافق او مخالف دلائلو اوریدو
بعد دعالم بالا څخه دریپبلکن
پارټی ته دفوقیت حق ورکول
شو ددغه فیصلی دصدوره بعد دیوه
یونټ په تاریخ کښی یو داسی
نقطه تحول یعنی TurnninGpoint
پیداشو کوم چه په سیاسی لحاظ
دومری نه اهم ؤ لکه دنوعیت په لحاظ
چه دلچسپ او مضحکه خیز - هغه
داچه دیونټ اصلی او حقیقی مصنف
مسلم لیگ دخپل تللی اقتدار
لاس نه راوستلو او دپښتنو رای
عامه لحان نه دجلبو لو په
خاطر خپل اسلامی او اسهامی
تجویز یعنی بو یونټ دپاکستان
دیاره خیانت او دقوم دپاره ئی
دیوعظیم مصیبت په نام تعبیر کړ -
او دغه ډول دیوه یونټ دسکیم
برخلاف دکافر ماجرا بی
یو بل محاذ دپښتنو په حمایت
کښی پیداشو دانتی یونټ په
دغه دوه محاذو او دهغو دکار
کنانو په ظاهری نعرو او اعلانو

کښې څه فرق نه ؤ او که ؤ - نو هغه فقط دغه قدر و ، چه پښتون دیونټ پر خلاف د څه ویلو او لیکلو په پاداش کښې هم قید شو او هم جرمانه . هم غدارو بلل شو او هم خائن مګر د صریح او واضح باغیانه تقریرو باوجود دمسلم لیګ لیډران هم دسرکاری نزلې (ریزش) څخه مامون ؤ او هم به دقانونی بی پناهیو څخه مصون - دا په دی وجه چه دوی په هر رنګ او هر حال کښې چه وی دنوح پراړخ ناست دطوفان څخه بی غم او په امان دی او همیشه به هم داسی وی .

زما خیال دی چه اوس به دپښتنو هغه ادیبان او نویسندګان چه څه عمر وړاندی دمسلم لیګی لیډرانو دپورته تحول او جملو څخه په دی خوشبینۍ مبتلا او په دې ویلو مجبور شوی ؤ چه دسهارو تلی که ماښام کورته راشی هم غنیمت دی - اوس باید په دې حقیقت پوه شوی وی - چه دا هغه خلك دی چه نه سهار دکوره وتلی او نه ماښام واپس راغلی دی - بلکه دا د ابتداء څخه پر کور دی او تر انجام به وی البته ددوی دغه قسم سیاسی نیرنګۍ او بدلیدونکی رویی خو صرف ددغه دپاره وی - چه هغه پښتانه کوم چه دا سلام په نوم دمسلم لیګ دجمهوریت په نوم درپیبلکن او د مذهب په نوم دمولانا مودودی دګلابی تقریرو او ګمراه کن نشریاتو ښکار شوی ؤ او دی بیرته خپل کور یعنی پښتنی مرکز ته رانشی - وائی چه داد دوی وهم دی چه که پښتون هر وخت پر یو مرکز جمع شی نتیجه به ئی یو داسی عظیم تراجیدی وی چه ددوی دانتهائی کامیاب ترینو ارزوګانو د پاره به دمرګ پیغام وی .

زما ګرانو ورونو - دو یمه لویه او خوش آینده واقعه دافغانستان او پاکستان دحکومتو د مشرانو باهمی تګ وراتګ و بالمشافه هغه خبری اتری وی چه په نتیجه کښې ئې دکراچۍ او کابل د مشترکو اعلانو پر بنا دا یقین پیدا شو چه ددواړو حکومتو خراب شوی تعلقات به واپس عادی او نارمل شی نو پر دغه بنا داویل به هم مبالغه نه وی چه دپښتونستان مسئله به هم په هغه اندازه یو څه اوارمشی - وایی چه ددواړو حکومتو د تعلقاتو د خرابۍ او اختلال یګانه وجه او د دوی د باهمی ګفت و شنید واحده مرکزی نکته هم دغه دپښتونستان مسئله وه .

زما ورونو - یو یونټ لاتر اوسه قایم او دائم دی په آئنې طور دنا کامولو دپاره دوطن دوستو پنځو حزبونو ، یو متحد محاذ د نیشنل پارټۍ په نام تشکیل شو - او اوس هغه نیشنل پارټۍ د مشرقی پاکستان دلیډر مولانا بهاشانی په اشتراك دآل پاکستان نیشنل عوامی پارټۍ په نوم بدل او په متحد صورت او سرګرمۍ ئی کار شروع کړی دی - دا چه دپښتونستان په مسئله کښې به دپښتنو د درد څه قدر درمان وشی - آینده واقعات ئی ثابت دی - او که مونږ د مستقبل نقشه دحال او ماضی په رڼا کښې تعینول وغواړو نو نتیجه واضحه ده - چه «دلی شاهین نه سوزد بهر آن مرغ که درچنګ است»

اوس دیوه یونټ وزیر اعظم سردار عبدالرشید دی. داهغه سړی دی. چه یوڅه عمر وړاندی د خپل حکومت په دی وجه معتوب ؤ چه موصوف دیوه یونټ دسخت ترینو مخالفینو څخه ؤ مګر اوس پخپله وزیر اعظم دی دامعلومه نده چه نوموړی خپله سابقه رویه اصلاح کړی ده او که دحکومت په رویه کښی رواداری پیداشوی ده. دابه هم آینده واقعات واضح کوی - مګر زما خپله عقیده داده چه که پښتون دخپلی ژبی. خپلو روایاتو او د خپل مخصوص ثقافت په وجه دجدا ګانه موجودیت دعویدار وی نو باید تنظیم، تحریک، او محاذ ئی هم جدا ګانه وی. او که دمصلحت وقت اوضرورت پربنا دچا سره لاس یو کول ضروری بولی نو هغه باید دالحاق په صورت کښی وی نه داچه د ادغام.

زماورونو! د جلالتماب جناب شهید سهرا وردی په امریکه کښی هغه وینا چه وائی: دپښتونستان مسئله هیڅ حقیقت نه لری داخو دیوداسی تخریبی عناصرو پیدا کړی ده چه غواړی یو آزاد مملکت جوړ کړی پښتون قوم ډیر حیران او غمجن کړی دی. ولی زما په خیال مونږ په دغه قسم تهمتو او وینا ګانو باید نه حیران شو او نه پریشان - ولی چه دا هم حقیقت او هم زما تجربه ده چه قوم وی او که جامعه کم وخت چه په مجموعی حیثیت دادای فرض او احساس فرض د خود داری او عزت نفس د صفاتو څخه داسی محروم وی. لکه په حیث دیو قوم چه نن ورځ مونږ پښتونستانیان یو. ملی تنظیم او قومی آرزو ګانی به ئی همیشه دغه ډول تحقیر او تضحیک کیږی.

ای ورونو! که چیری دا حقیقت وی چه مونږ په پورته قسم تذلیل بد وړو. نو ددی پر ځای چه دښځو په شان په بدویلو، اوښکو بیولو او په بد دعاؤ وقت تیر کړو. د طمعی او حرص هغه ماران چه په حیث دیو قوم ئی زمونږ روحونه او جسمونه داسی مسموم کړی دی چه نه ترځان پورته څه وینو او نه تر نفس پورته په څه پوهیږو او دغه ډول ئی دځان ځانی دالغنت چه مونږ ئی د خپل شهامت او جرئت دوطن دوستی او پاك نفسی بلندو روایاتو څخه محروم دډار او بزدلی او تملق په ذلتو کښی مبتلا کړی یو ځان خلاص نه کړو دغه رنګ ذلت انګیزی خبری او رول ئی خو پریږده یقین دی چه بالکل ژر به دخدای دغه پاکه مځکه زمونږ دذلیل بار څخه دهمیشه دپاره داسی سپکه او پاکه شی چه نه به پښتون وی او نه به دهغه دځنګل مزریتوب، البته هر وخت که مونږ عملا په دغه پوه شو چه سواله پښتونستانه دپښتو ژوند ژوند نه دی. بلکه دغلامی او اسارت دذلت او نکبت هغه اوردی دپستی او خسران هغه زړه سوونکی لمبی دی. دپامالی او اورسوایی هغه تکلیفونه دی چه په مقابل کښی ئی دقبر دمارانو او اژدهارانو پښهار او دلړمانو نیښونه هیڅ حقیقت نه لری نو هغه وخت به زما ورونو! هر مخالف او بدخوا نه پخپله دپښتونستان حقیقت او دتخریبی عناصرو تعداد او کیفیت معلوم شی. پاته په (۳) مخ کښی

افتتاحیه وینا

له څو کلو راهیسی دا دوددی چه په لرو بره پښتونخوا کښی دپښتونستان د خپلواکۍ دتړون تلین نیوه شی دپښتوژبی درانه شاعران هم په دې کښی برخه اخلی په خپلو تودو اشعارو د کام په وینو کښی غورځنګ پیدا کوی او اتفاق ته بی رابولی سبزهم دنورو کلو په څېر ډېر ودرنو ښاغلو دپښتو ټولنی په بلنه په دغه مشاعره کښی چه د پښتونستان دخپلواکۍ دتړون په نسبت په کابل رادیو کښی جوړه شوېده ګډون کړی دی.

خوددې مشاعرې یوخصوصیت دادی چه دلری پښتونخوا اورژبی مبتکر شاعر میرحمزه شنواری هم پکښی ناست دی او ددې مشاعری دمشرتوب چاره یی پرغاړه اخیستې ده پښتو ټولنه ټولو درنو مېلمنو او ښاغلو شاعرانو ته چه په دې مشاعره کښی یی برخه اخیستې ده دزړه له کومی کور ودانی وایی

رشاد

دمشاعری دمشروینا

ګرانو او عزت مندو ورونو!

دهر څه نه آګاهو! زه دزړه دژورونه ستاسو ددې اعزاز او قدردانۍ تشکر کوم. او په دی چه څومره فخرو کړم کم به وی. چه نن دپښتونخوا دماغ ماته ددې ادبی غونډې دصدارت شرف او بخښلو - چه زه ئی بیخی لائق نه وم، دنن نه (۹) کاله پخواهم زه دیو ادبی وفد په ملګرتیا کښی کابل ته راغلی وم - او دلته چه د پښتون او پښتو ادب په سلسله کښی کوم کارشوی وه - او بیا په تېره ستاسو هغه ځلانده او بی قراره ارمانونه یې هم ځیر کړی وو - کومو چه دپښتون اتحاد او پښتو ادب د پیشرفت په حقله ستاسو په زړونو کښی اړخونه بدلول، نن چه زه بیا راغلم او اومې کتل نو نه یوازی دا چه پښتو ادب ډېر وړاندې تللی دی، بلکه ستاسو هغه بی قرار وارمانونو هم څه نه څه د اطمینان او بشپړتیا پلوشی لیدلی دی - زه په ډېر یقین سره ددی وینا زړورتیا کوم چه ستاسو ددی پښتو دوستۍ ګرمی به دپښتونخوا په افق یو داسی نوی نمر تخلیق کاندی چه دخپل محیط نه د باندی به هم دهغه وړانګی دانسانیت او امن شینګی راوټو کوی - په آخر کښی زه یو ځل بیا ستاسو شکریه ادا کوم. او هیله لرم چه مشاعره به شروع کړی شی:

حمزه شینواری

ځان غولوم

نه یوازی دې دنیا کښې زه په تا ځان غولوم
لو دنیا یم دې دنیا کښې، په هر چا ځان غولوم

احساسات چه طوفانی شی، شی دعقل بېړۍ ډوبه
د بقا ساحل که نشته، په فنا ځان غولوم

کرشمې د کښرو وروځو زرفتنې لری، په پټه
چه دستر گو بلا اخلم په بلا ځان غولوم

زړه ماشوم شوراته ژاړی، کټوری له زانو غواړی
سوخته پریمه، په سپوری دعنقا ځان غولوم

د مراد غوټۍ لا کله، په رژون شوه توری خاوری
زه لاهسی په نسیم د نن سبا ځان غولوم

خپل پردی می ستا په چم کښې، په یوشان ولی په کانو
لېونی غوندې دزخم په خندا ځان غولوم

په خیالی شیشه محل کښې، دخپل ځان په نفس ورک شوم
هوسی یم، د سراب په تماشا ځان غولوم

دمستانو پیالې ډکی، زه لاهسی خمار ناست یم
خولا بیاهم د ساقی، په دلاسا ځان غولوم

د بابا هډونه پټ شول دپردو سپرو له گرده
زه لا ناست یمه په توره دبابا ځان غولوم

غولولو دپښتون ته استعمار دا مونه ایښی
زر کرته غولېدلی خوهم بیا ځان غولوم

غزل

چه د ځان او د جهان نه خبر نه یم
پښتنی مینی او ترکړم او تر نه یم

څه خبرو مه د مینی د جنجال نه
دمجنون غوندی په سمه او غر نه یم

ستا د وصل آرزو من یمه دلبره
خوش په تاج د بادشاهی او لښکر نه یم

محبت دی په ماداسی چاری وکړی
د دنیا په خوشحالی او اختر نه یم

ملامت که ټول عالم را باندی وائی
د پښتون اشنا گدایم افسر نه یم

ما بینا ته د بر پښتنا غوندی موسکی شه
اریه د رمن د ژوندون او نظر نه یم

ښاغلی عبدالله «بختانی»

دسره رودنه

د پښتنو هېواد

ئې وطنه جان زما ښکلی گلستان زما
زه درنه ځار ېږمه گران پښتونستان زما
گران پښتونستان زما

ئې د ننگیالو وطن ئې د پتیالو وطن
څومره راته گران ئې ته ئی دز مریالو وطن
ئې د ز مریالو وطن

غېږ کښی دې لوېږمه ئې شوکت وشان زما
زه درنه ځار ېږمه گران پښتونستان زما
گران پښتونستان زما

ئی د پښتنو هېواد ئې د مېړنو هېواد
ما کښی دې چلېږی سا ئې چه دژوندو هېواد
ئی چه دژوندو هېواد

ژوندنه نه تېرېږمه څووی تاب وتوان زما
زه درنه ځار ېږمه گران پښتونستان زما
گران پښتونستان زما

ننگ او شجاعت سره توری او غیرت سره
سا تو به پښتو خپله عزم او همت سره
عزم او همت سره

چا ته نه تېټېږمه دغه دی پیمان زما
زه درنه ځار ېږمه گران پښتونستان زما
گران پښتونستان زما

زه تا پرېښودی نه شم بلی خوا ته تلی نه شم
هرڅه نه که تېر شمه تا نه تېر ېدی نه شم
تا نه تېر ېدی نه شم

بی له تا ورکېږمه ئې نام ونشان زما

زه درنه ځار ېږمه گران پښتونستان زما

گران پښتونستان زما

نه اورم لمسون دبل نه منم قانون دبل

ئی چه د پښتون عنوان نه لولم مضمون دبل

نه لولم مضمون دبل

هېڅ نه گمرا کېږمه هسی دی ایمان زما

زه درنه ځار ېږمه گران پښتونستان زما

گران پښتونستان زما

روح دزمانومې ئې ژوند دافسانومی ئې

شعر دبختانی وایی سورد ترانومې ئې

سورد ترانومې ئې

تل په تا ناز ېږمه ئی باغ و بستان زما

زه درنه ځار ېږمه گران پښتونستان زما

گران پښتونستان زما

ښاغلی پسرلی

د سنگ شکن برخه

پښتون له خیا له زندا نونه اړ ولی نشی
څوك په بوکی دخپلواکۍ اور سړولی نشی

کوم یوقانون دجهان منعه دحق غو ښتو کوی
په حق غو ښتلو پښتون هیڅوك پړ ولی نشی

مگر له وینو ئی ورډ کی دبرڅو څو کی کړی
د استعمار لیمه هیڅ خاو ری مړ ولی نشی

په هیڅ تهد ید د پښتنو ارا ده نه بد لیږ ی
لا س د غیر خو د پښتنو ډ نډ خړ و لی نشی

په پښتانه دچا گمان کړی غلیم دی ؟ کنه
قوم اووطن څوك په اغیارو خرڅولی نشی

غوړی له لویه بحره هم تل امتیاز غوا ړی خپل
پښتانه هیڅوك په پنجاب کښی حل کولی نشی

فیروزه روغه دچر گ نو له کو لمو راوزی
پښتو نستان د یونټ تر یخی هضمولی نشی

ښاغلی نیك محمد پکتیانی

د پښتو خبری

پښتو نه ! و او ره د پښتو خبرې نه مخالفی د پر د و خبرې
خو ږی ورور ی، او د پیر زو خبر ی لږ د سکو نړ لو ا و لشو خبر ی
فکر چه نور د پښتو بول سپك نشی
پښتو نولی او پښتو کول ورك نشی
په کور دی سپور دی خو نی نیز پښتو نه ! له پښتو ننګ نه شی ګریز پښتو نه
دنیا کړی څه او ته ؟ عزیز پښتو نه و کړه دښو بد و تمیز پښتو نه !
پښتو شوه پا تی په پیسو پسی شو ی
لکه هلك چټی کیسو پسی شوی
آ زادی مینه د پتنګ غوا ړی چه ضرورت شی توری شرنګ غواړی
صلح کښی صلحه جنګ کښی جنګ غواړی سر غواړی، وینه غواړی ننګ غواړی
چه جذبه نه وی د ژوند خو ند کله وی
بی قر با نیو قو می ژوند کله وی
چه تیټ بل وا که وی انسان دی نه وی چه جګ کا ته نه وی چشمان د نه وی
عزت شرف چه نه وی ځان دی نه وی چه پښتون نه وی نوجهان دی نه وی
پښتا نه خپل پښتو نستا ن غوا ړی
له ملکه ورك خپل د ښمنان غوا ړی

جناب پاچا گل صاحب

راشه دا شور و گوره د ظالم زور و گوره

سوږ دی پخپلو وینو دپښتون کور و گوره

خوی دانصاف نه لری، آئین خپل صاف نه لری

دا چه په څټ می دی دا زیاتی خور و گوره

چه مال او سر خوری زما، په بحرو برخوری زما

په پښتون رحم نه کړی، په مرۍ لور و گوره

ماسره لار نه کوی، دسمون کار نه کوی

په کبزه لار دی روان، دا زما ورور و گوره

تش په نامه د اسلام، دائی دانه ده په دام

ځی په رضا دظالم، په زور او شور و گوره

حق دخپل ورور نه منی، فریاد اوشور نه منی

په ظاهر یوڅه وائی، په زړه ئی نور و گوره

توری توپك ته کړی لاس، چه ورسره کوم باس

حق پری تر خه لګیږی، دالمن اور و گوره

پښتونه ستادی قسم، دپښتون کوردی کړه سم

دادی ویل دبینوم، ننګ دپلار مور و گوره

د مزدور غږ

پښتو نستان ملت با تور یمه زه
خو په خپل کور د بل مزدور یمه زه

ملا می کړه ما ته د پر دو بارونو
ځکه په ځای کښې پروت رنځور یمه زه

چه څه ئی زړه وی پخووم به هغه
د چا په خسو تو د تنور یمه زه

د خپلوا کۍ په تاج می ځای و نه شو
پروت په ایرو کښې کوه نور یمه زه

تاسی زما د خلاصون لار پیدا کړیء
یا را نو څه وکړم مجبور یمه زه

چه انسانی دنیا تری کر که کوی
هغه رواج هغه د ستور یمه زه

خلك په ما کښې مطالب لټوی
د زمانی په زړه منثور یمه زه

را باندی وژنی موږ کان کر یړی
جا مو د نورو کښې کافور یمه زه

ته را نه غواړی د جهان خبری
ما نه ځان هیر دومره ترور یمه زه

چه نوم ئی اخلمه مړ کیږ مه پری
په یوه داسی کار مامور یمه زه

یمه نیولی زو رورو په لاس
د خپلی خولی د غاښ انبور یمه زه

د زړ گی کور به می آباد شی کله
د بیلتا نه له لاسه چور یمه زه

ما نه خبری د سینا مه غواړه
د سا مری د کاله طور یمه زه

دځان په حقله ار ما نجن گورمه

دهر سړی دخولی مذگور یمه زه

مدام لگیا خپلی پښی و همه

دبل په لاس تیره سا تور یمه زه

که یم مزدور د زمانی په نظر

خود بادار سره تر بور یمه زه

زه به په ډیر و ابی بوری کړمه

دغیر تو دونې بور یمه زه

وبه کړم زه یوڅه دننگ کارونه

که دپښتون د کاله پور یمه زه

هره دانه کښې زر نیشې لرمه

دزړه په وینو تاند انگور یمه زه

زه دغلام د غوږ حلقه نه یمه

د آزادۍ په ښار کښی دور یمه زه

که مظلومان چیرته په دار خیجوی

پیدا دی دار لره منصور یمه زه

پښتنو تاسی ته می ننگ راوړی
پښتون خو یمه که مزدور یمه زه

ښاغلی شنواری دوست

د پښتون غمه!!

لکه به زړه کښې یوار مان چه تور و خا ورو نه لحی
د اغم ز ده لحو ا نی می هسی نیمه خو ا پاتی شو ه
لکه سری او ښکی چه له ډیری مجبوری تو ئیږی
د ا سی می خپله ار ا د ه خپله رضا با تـی شو ه
لکه غو تی چه نیمه شـو ی ا و تو ئیږ ی پسی
داسی دزړه نه می آر ام خولی نه خندا پاتی شوه
لکه په ا ور سو ی ډاغو نه چه. تنا کی و ی لا
داسی نیم سوزه زند گی می ماجرا پا تی شوه

رښتیا چه شمه دمحفل ؤ م خو تنها وسومه
څه ئی لو گی شو م څه ئی او ښکی په ژړا و سومه

دز مانی ناخوا لو یوړم ستر گو هیر کړم پسی
په شان دزړه دسوزا وساز دخاطری پاتی شوم
لکه دلوئی لاری گردد کاروان ښیو پسی تلم
خود بادو جفا یری نه ښوم بی اسری پاتی شوم
لکه پتنگ د شمې خو ا ته ر سید لی نه و م
دزړه له سوزه شوم لو گی سړی ایری پاتی شو م
که په ژړا اوپه فریاد دهر چا خوا ته لاړم
خوهغه شان نه لوند گریوان او ستر گی سری پاتی شوم

دپښتون غمه ! زه دی هیر کړم ته یاد یږ ی ر انه
زه دی هر څو کمکی کنم خو ته لو یږ ی ر انه

که زه دناز دهیرمن ناز او کرشمی یادی کړم
نه په سر و او ښکو کوندی رندی پښتنی رانیئی

که زه دښکلو په لیدو زړه ته آرام ورکوم

ته دپیز یبو په شر نگا کښی زو لنی را ښئی

که زه دنوی ژوند نوم واخلم دزړه سود پری کوم

ته دپښتون دبدو ورځو نمو نی را ښئی

خوچه سوزواخلمه په زړونو کښی بپاسوزلټوم

ته د بې سو زه پښتنو سړ ی سینی را ښئی

دپښتون غمه ! تاد خلکو دسیالۍ وو یستم

هم دسیالۍ هم دې دهری خوشالۍ وو یستم

غمونه هیر کړم اوښکی هیری کړم سلگی هیری کړم

خو د محکومو یتیما نو غو غا هیره نه شوه

دانگریز انو دمغلو نا کردۍ هیر ی شوی

خو د د ی نو و غا صبا نو جفا هیره نشوه

د بر قیا متو نه محشر و نه تیرشو هیر شو پسی

دچار سدی دقتل عام کربلا هیره نه شوه

ولی به هیر شی چه سری وینی لا بهیږی په کښی

دپښتنو په وینو رنگ ما جرا هیره نشوه

دزخمی زړه به می زخمو نه په هیڅ شان جوړ نشی

څوچه پښتون نشی آزاد پښتونستان جوړ نشی

ښاغلی رشاد قندهاری

صیاده !!!

نه پټن غوندی مین پرهغه شم یی ؟ چه شرر یی دشهباز د ځالۍ اورشی ؟
ترښارګ درباندی ګرانی یی رشتې دی؟ هغه دام چه حریت پکښی نسکور شی؟

* * *

هغه وینی ستا دلومو سرخرو ئی ده ؟ چه دارۍ وهی دمات وزرتر څوکو؟
چه وهې شی د چمن په بېلتا نه کښې ته لذت مومې له هغو سو و کو کو ؟

* * *

ته دښکلو دنڅاپه سترګه ګورې د قفس دنیم بسمل پر فشانۍ ته ؟
دعراق(۱)دازانګو په خیال غوږنیسی؟ د زندان د زولنو خو دنمایۍ ته؟

* * *

ته هغه ګړۍ بهار ګڼې دعمر په اهاړ چه دګلونو بربادی شی ؟
جمعیت دی دخاطر هغه ښادی ده ؟ چه په غم دتورو زلفو پر ېشانی شی ؟

* * *

ته یی بولې د بهار دفیض اور یځی دا آهونه چه تمېزی کوه و کاړ ته؟
په آرزو د مرغلر و لمن نیسې دبېلتون پر ګرېوانه داوښکو لاړ ته ؟

* * *

ګوره ګوره ددې طور دتورو غرونو په هر کاڼی کی بکرۍ غوندی شرر شته
چه سېځه شی وباطل پرې افسو نونه د (سینا) د هر هر بوټی دا اثر شته

* * *

دا اتڼ دسپلنیو دی په اور کښی د بسملو پټنا نو اضطراب دی
دځبلو پښتنو دننګ جرګې دی په طلب دآزادۍ کښی تب وتاب دی

* * *

یوه ورځ به داد خوږوزړونو توښ وی چه به سوړ کاندی ستازړه له دغو مینو
هغه جام چه ته دبل له وینو ډک څکې ژر به نورو لره ډک شی ستاله وینو

☆

(۱) عراق دموسیقی په مقاماتو کښی دیوه مقام نوم دی

ښاغلی امین الله زمریالی

وګټه پښتونستان

ژغژغی دی چه زغیږی پته نسته د کاروان
دمزله لنډون په تګ دی نه په چیغو په بیان
د ګفتار قصر که بر یښی په ګمان سره محکم
دا و بود سر حباب دی قصر نه دی نه ایوان
په اند یښنو به کامیاب نه سی څوك چه نلری عمل
بی عمله اند یښنی کړی لیونی نه هو ښیاران
په غړ مېهاری دډو لونو چا نیولی نه دی ملك
هغه توره د بی ژبې چه نافذ ئې دی فرمان
و ګمرا هو ته تر هغه قرآن نشو لو رهبر
څو و نه پړ کیده توره او عمل نه شو عیان
تش په لافو رستم نه شی نه میړه شی په ګفتار
څو پر تینګ تصمیم او عزم ور ګډ نه شی په میدان
دبابا توره شوه ما نه هم ئی خاوری شوه خانی
دبابا خانی که ساتی څوك پخپله دی شی خان
هره ناوی د خپل ځان په ښایست و یاړی نه دمور
هغه ناوی به څوك څه کړی چه بدرنګه وی په ځان
که په پت کښی ګور ته ولاړ شی هغه ژوند دی نه دی مرګ
که بی پته تل ژوندی وی دی دی مړ د ګورستان
تر دا ژوند چه تل غلام وی مرګ بهتر دی د سړی
ای پښتونه ! ځان بادار کړه و ګټه پښتونستان
زمریالیه ! که زمری ئی ریزه مه خوره نه دچا
چه دبل په ریزه پائی ګیدران دی نه زمریان

---

* یوه روځ به داحلقې وی ستا دلومو — چه به ستا وخپلی غاړی ته زندی شی
دغه اوښکی چه نن ستاله ځوره اوری — سبا ګوره بیر ته ستا دباغ ږلی شی

* * *

یوه ورځ به دانامېنده اسو ېلی وی — چه به ستا دعیش ډېوې ته دمرګ باد شی
دغه لومی به دی کښې باسی په لومه — دغه صید به آخر ستا د ځان صیاد شی

ښاغلی احسان زهیر

غزل

راشه نا ترسه په خندا راشه — در قیبانو نه په غلا راشه
ناقرارزړه می چه قرار و مومی — ابلبلی راشه په نڅا راشه
شوخ شوم په ډیروشو ګیرو کښی آشنا — چه د شپی زړه وچوی رڼا راشه
دزړه غوټی زما چه اوغوړ بېزی — سر په نغمو نسیمی بیا راشه
دانتظار اوږدی نیټی کړه ماتی — په کینج میکیز په ښه ادا راشه
چه دخیبر شاړه میره کابل کړم — ما ته د غریب ستړی ژړا راشه
وخته! چه تالېدواوس نه دې هغسې — نن خوته لېږ په پښتو نخوا راشه
چه پښتونخوا کړمه په وینو ګلزار — دآزادۍ ناوی په ما راشه
راشه چه زړونه سره تش کړو ګلی — ته زما خواله په موسکا راشه

ښاغلی احمد ګل سرفراز

دآزادیء شمال ته

ای دآزاد ژوندون شماله راشه — د پښتنو دی پښتونخواله راشه
ای د سحر نسیمه وکړه پرواز — د تیر ګلشن بیا تماشاله راشه
راشه غوټۍ د ګلو و سپړه بیا — ددی ګلشن د ګلو خواله راشه
یو ښه پیغام د آزادۍ راوړه — دها محکوم پښتون دنیاله راشه
دوی کړه راویښ دآزادۍ په نغمو — ددوی کاله ددوی صحراله راشه

دغه مجنون هغه لیلې کړه یو ځای
راځه راځه سره جدا کړه یو ځای

راشه پیغام دپښتنو یوسه — دغه احوال په وینو سرو یوسه
د غلیمانو دانا دو دې په مونږ — د عدل ځای ته تر (یونو) یوسه
سوری سوری چه شول زمونږ ماشومان — سوری ګوګل می په ګولو یوسه
د اسارت د ژونده تنګ یمه نور — دغه آواز د خوږو زړو یوسه
زه د آزاد ژوندانه حق لرمه — د حق آواز می تر ملکو یوسه

نور می موسم د آزادۍ راغلې
داغمجن زړه می په ښادۍ راغلی

ښاغلی سلیمی :

قسم

د پښتو په زاړه نور او ایمان می قسم قسم په مینه دوطن په لوی افغان می قسم
په پښتونواله دمیرویس نیکه سوګند کومه په پښتنی توره او ننګ دخوشحالخان می قسم
په غیرتی وینه قسم دلوی شیر شاه کومه دپښتیانا په دنګوغرونو او دامان می قسم

داباسیند په غاړو جګ به شی بیرغ دپښتون
یا به غوڅیږی هلته دواړه لاسه برغ دپښتون

بیا به زوړ دور دپښتون په پښتیانا راځی شان او شوکت به دپښتون په بیرته بیا راځی
مړ ژواندی تن به دپښتون یو ځل قوت مومی بیا خوږه وروری هم دپرون په بیرته بیا راځی
تقدیر د «نن» به خپل «پرون» وته په شا بیا یو یو وار هم هغه زوړ تړون په بیرته بیا راځی

بیا به معراج دښه ژوندون ته ټول پښتون رسی
لیلی دوصل ته به بیا دغه مجنون رسی

یا به په روغه قافله ځمونږ منزل ته رسی ځمونږ بیړۍ په دی طوفان کښی به ساحل ته رسی
دا قبیلې به را ټولیږی دملت په نامه د مجنونانو لاس د مینې به محمل ته رسی
یا به شمله دپښتون جګه دپرون شی په شان یا به دمرګ شیتۍ دټول قوم ګوګل ته رسی

یا به خوشاله او آزاد پښتونستان جوړ شی
یا به له ټولی پښتیانانه قبرستان جوړ شی

پښتون پښتون به وی ترڅو چه وی آباد جهان پښتون پښتون به وی ترڅو وی لمر سپوږمۍ په آسمان
زر به را ټول شی دا ټیت شوی پښتانه په پښتو پښتو پښتو به تر قیامته وی ځمونږ ه ایمان
دنیا دی واوری پښتنو دی داسې کړی تړون چه خپلوی به خپلوی به خپله مځکه آسمان

دپردولاس کښی یو پښتون خیبر ځغملې نه شی
دا باسیند نارو سو رو ته نور کتلی نه شی

پښتنه غواړم، آزادی غوښتل ګنا خونده ؟
د آزادۍ مینه لرل خوشی سودا خونده ؟
دمریی توب نه تښتیدل به ورا نکاری خونه وی ؟
پخپله خوښه دخپل ژوند غوښتل خطا خونده ؟
دخپلی خاوری خپلول به څه تیری خونه وی ؟
د عدالت او حق غوښتنه ناروا خونده ؟

که داسی نه وی نو پښتون پښتونستان غواړی
خپل حکومت په خپل خیبر او په بولان غواړی

داسی صبا

ښاغلی لونګین

څوك به خورې زلفی اوږدی ستائی — څوك به د ګلو نندا ری ستائی
کښره و ږه شو له مانۍ د زړ ګی — شاعران ځکه آشیانی ستائی
طمعه له زهد او تقوا نه و شوه — غوړی مړی د خان خانۍ ستائی
که له رندانو نه پوښتنه و شې — د کی د میوو پیمانی ستائی

زه به پښتون پښتونستان ستایم
په پښتو ژ به خپل جهان ستایم

راځیء چه ځانله یو جهان جوړ کړو — یو پښتنی نوم و نشان جوړ کړو
چه پښتنی دودو دستور وی په کښې — سمه اوغر هغه دامان جوړ کړو
څو به ژوندون تکیه آرزو باندی وی — ملی ارمان پښتونستان جوړ کړو
چه پلو شی تری دیو والی خیژی — هسی شان روڼ کور دافغان جوړ کړو

خدایه چه غواړم هغه بیا راولی
په «لونګین» داسی صبا راولی

مروره آرزو

ښاغلی سېلاب ساپی

ترکیب شوی له دردونو — په قلم دغه مضمون دی
دژوندون هره پرده می — دغمونو نندارتون دی

دپردو کف و کالر کښی، رانه ځان او جهان هېرشو
دتقلید په تواضع کښی، رانه ډېرلوی ارمان هېرشو
دفراق په جزیرو کښی-دساروان نه کاروان هېرشو
په طوفان د جهالت کښی-رانه درداودرمان هېرشو

نور خبر له حاله نه یم — په سبا می نن پرون دی
دژوندون هره پرده می — دغمونو نندارتون دی

غوږ لرم اوز ګېروی اورم-نور خبر نه یم چه څه دی ؟
ستر ګی شته لاسونه شته دی-خولیدل ګول ښه ندی
ساقی ډېرجامونه راکړه-چه خواږه په کښی ترڅه دی
ولی دومره احساس نشته-چه داڅه کوم او څه دی؟

له ښو بد و خبر نه شوم — بس ترستونی می معجون دی
دژوندون هره پرده می — دغمونو نندارتون دی

په یورپ لاړشم یورپ ته - په یورپ کښې امریکا ته

خیال هوس رانه باغی دی - ځکه تښتی هری خوا ته

دماشوم غوندی ور لوېږم پلنی غېږی د جفا ته

مروره می ارزو شوه - چه روان شومه صحرا ته

ارادومی گېلی وکړی سر می اېښی په زنگون دی

دژوندون هره پرده می دغمو نو نندارتون دی

په رڼو ستر گو ویده یم - داد کوم جادو اثر دی

په خمود جمود کښې خدا ېږو - ژوند دژوند نه مرور دی

دپردو په خوشالۍ کښې - مادو کړی مال او سر دی

خوا خرمی داسی حال دی - چه محشر ورته اختر دی

چه په کور کښې مسافر یم داد کوم جادو افسون دی

دژوندون هره پرده می دغمو نو نندارتون دی

دغه لاس اوپښی څه کړم - چه ژوندون موند لی نشم

ددی ژبی نه گونگ خوښ یم - چه خپل حق غوښتلی نشم

ددی ستر گو نه روند ښه یم - چه تذویر لید لی نشم

داشعور دې او به یوسی - چه خو له شته خند لی نشم

درد ید لی کړ ید لی شپه ' ورځ می شو اخون دی

دژوندون هره پرده می دغمو نو نندارتون دی

انسانانو وزر وکړه - خوزه لا په ځمکه خړم شوم

خلکو نوې یاری وکړی - خوزه ورور لره لړم شوم

دپردی تهذیب تشویق کښې - څو څو ځله منقسم شوم

اوس لاهم ده پته ور که - چه زه کور شومه که شم شوم

خو همدا نېستی می بس دی چه په بر خه می بېلتون دی

دژوندون هره پرده می دغمو نو نندارتون دی

ساقی نوی شراب راکړه - ماته نو یو پیمانو کښې

پاریدلی می ارزو ده - درد ید لی ترانو کښې

بخته څو به مرور ئی؟ - کشمکش د زمانو کښې

دامید ځوانی شوه خاوری - انتظار دجېلخانو کښې

نوره تنگه حوصله ده فقط پاتې یو شبخون دی

دژوندون هره پرده می دغمو نو نندارتون دی

ارزو گانو گېلی وکړی- امید و نه په ژړا شو

ارادو اوسېلی وکړه- او عزمو نه هم رسوا شو

بس دی دومره جبر بس دی- چه می کور کلی تالا شو

ای «سېلابه» اورونه یو کړه- گوندې خدا ېږو دخندا شو

چه ازاد پښتو نستان شی نو پښتون هله پښتون دی

دژوندون هره پرده می دغمو نو نندارتون دی

ښاغلی محمد شریف « شریف » دپښتونستان دباجوړ څانګی منشی

پښتنی همت

که شپه دغم شوله اوږ ده نوره اوږده دې شی لا
ډېری اوږدې شپې شو ګیرونه تل زغملی دی ما
که څوك زورونه ازمیئی راباندې وازمیئی دې
د زور و رو ډېرزور ونه ازمیئلی دی ما
چېرې مغل که مې په کور باندې نا تار ګډ کړ
ډېرې غوغاد دوی په کور هم ګډې کړی دی ما
که پیرنګی زما په کور باندی نا تار جوړ کړ
خوا خردوی له دې وطن ځنی شړلی دی ما
دزمانی انقلا باتو پخته کار کړمه زه
دژوندانه تودو، سړو آزموده کار کړمه زه
پردی دښمن که ننګیالوته بیا ګواښو نه کوی
که مومشران بندی خانو کښې اچول غواړی څوك
که دښمنانو مې په کور باندې غوغا ګډه کړه
په چارسده کښی که زمونږه قتلول غواړی څوك
که دښمنان زور وزیاتی اوتجاوز کړی په ما
که می په کور کښی ماشومان بمبارول غواړی څوك
په طمعه وېره که مې څوك په کور کښی درځ اچوی
په دی فریب که دپښتون کورورانول غواړی څوك
که هرڅه شوی دی هم کېږی شاید وبه شی دا
سربه ټیټ نکړمه، نه شوی او نه وبه شی دا
له ډېرپخوا دازادۍ مینه په زړه کښې لرم
په زور اوزر مې څوك دامینه اخستلی نه شی
دخپلوا کۍ په مینه سرومال ور کړی دی ما
دقربانۍ جذبه مې زړه نه څوك وېستلی نه شی
دپت، غیرت، ننګ وپښتو، پښتون ولۍ درسونه
که څوك ځان مړ کړی رانه دادرس هیره ولی نه شی
چه توده وینه مې یوځل چېرې په جوش راشی
داستعمار منګولی هیڅ بیا ټینګیدلی نه شی
دامی تصمیم دی چه آزاد پښتونستان جوړوم
په پښتنی همت مې بیا دا خپل جهان جوړوم

ښاغلی عزیز الرحمن «ممنون»

پارول

لکه مین چه دغمونو په طوفان کښی شی ورك
یا کوم مقصد چه دظلمونو شبستان کښی شی ورك
یا حقیقت چه تور و لړو د کمان کښی شی ورك
او یا محال دقوی عزم په امکان کښی شی ورك
هسی د خیال او تفکر لو یه دنیا کښی ورك یم
کله ظلمت کله د هیلو په رڼا کښی ورك یم

کله د هیلو په آرزو د یاس اغزو سره مخ
داطمینان په تجسس ، داند یښنو سره مخ
د امیدونو سمندر کښی دچپو سره مخ
یا دخوزلن زړه د معصومو تقاضو سره مخ
کله به دار کله انګارته دآرزو پسی ځم
یښتونستان دآزادۍ په اند یښنو پسی ځم

کله دماغ دیو طوفان په جوړ ولو کښی شی
داحساساتو جذبو په پار ولو کښی شی
د اتحاد د ښه بنسټ په تینګو لو کښی شی
دیو نهضت او حرکت مینځ ته راوړلو کښی شی
په دغو هڅو باندی بوخت دیو مرام دپاره
له ژوندد تیروی دقومی ژوند او نظام دپاره

دژوندون توغ ئی وی په لاس مظاهری جوړ وی
د امیدونو په دنیا کښی ولولی جوړ ولی
د ظالمانو په کورونو زلزلی جوړ ولی
دنن په سیر کښی دسباژوند ته نقشی جوړ وی
یو حرکت چه دآرزو بیړۍ ساحل ته رسی
یا دلوړتیا او ترقۍ کاروان منزل ته رسی

ښاغلی عبدالروف مخلص قندهاری

پښتانه څه نه منی

سو چه پښتون د بېګانه و وانتظام نه منی
د بل زمام نه منی
و ځانته ژوند کوی

دی په جهان کښی دا تبر په سر بازی مسما
په شجاعت په غذا
په سر بایللو کښی تر ځان نه بولی بل څوك بالا
پر دغه ټوله دنیا
یو آزاد قوم پیدا شوی دی د خپلی رضا
نه منی زور د هیچا
هغه د نور و زور هیڅکله په خپل کام نه منی
د بل زمام نه منی
و ځانته ژوند کوی

دا ځمکه وینی دښمنان د لته راغلی دی ډیر
ظلمونی کړیدی ډیر
دا خلق ګوره خپل ځانونی پروژلی دی ډیر
خلقو لیدلی دی ډیر
په ما ته تللی مدعیان تری تښتیدلی دی ډیر
ناکام وتلی دی ډیر
پر مرګ ولاړ دی نن هم هیڅ دچا احکام نه منی
د بل زمام نه منی
و ځانته ژوند کوی

نن په هیبت راپاڅیدلی پښتون ځان جوړوی
قومی ځوانان جوړوی
لکه چه بیا راپورته شوی دی میدان جوړوی
ځاله د ځان جوړی
دېوی تامی آزادی ځانته جهان جوړوی
پښتونستان جوړوی
دغه نامی تبر پر ځان نوم د غلام نه منی
د بل زمام نه منی
و ځانته ژوند کوی

پښتانه بیا راپورته شوی دی په ځان شوه خبر
چه دا ژوندون دی خطر
تر څو به بندیو د پردیو په جادو او منتر
راپورته کړی ئی سر
دا حقارت دا سارت به بیا په زور او هنر
کړی له خپل ملکه بهر
پر خپله ځاله باندی حکم د بل کام نه منی
د بل زمام نه منی
و ځانته ژوند کوی

پر دا سپیڅلی تبر باندی دا ظلمونه ورك کړی
خدایه غمونه ورك کړی
د ځان اختیار ئی په خپل لاس کښی دا جبرونه ورك کړی
پر دی لاسونه ورك کړی
پښتونستان جوړ کړی خالقه یو نټونسه ورك کړی
دا فسادونه ورك کړی
ستا بندګان دی پښتانه بل نه سلام نه منی
د بل زمام نه منی
و ځانته ژوند کوی

صورت حال

زما زړه مینه او اشنا غواړی
لکه مجنون را نه لیلا غواړی

هریو ارمان درژبدو په تمه
او ګلشنی می تمنا غواړی

لکه یتیم ژاړی په سرو ستر ګو
لکه ما شوم رانه وا وا غواړی

زړه می دمینی لیونی شو رانه
او لیونی خو مدعا غواړی

* * * *

ولې رقیب مې د ربیا ر په جامه
نه! یو خزان د یو بهار په جامه

په پسته خوله راته ترخې وائی
راباندی لاس اچوی دیار په جامه

لاس کښی ملهم ترخ کښی نشتر ګرځوی
دا ګنهګار دنیکو کار په جامه

مانه د مینی ټول کاروان لوټوی
په سپین لباس کښی درهدار په جامه

* * * *

دی رانه ځان غواړی جهان غواړی
مانه می مینه او جانان غواړی

دی رانه زړه رانه آرزو لوټی
ارمان! چه مانه می ارمان غواړی

وائی زما په ستر ګو حسن ګډ ړه
رانه یردی مینه کښی ځان غواړی

راته زاړی راته سوالونه کوی
خو غم ئې دادی چه ایمان غواړی

* * * *

وائی زما دفکر تا ل خوش کړه
پکښی جوتی خوړه زما تال خوش کړه

وائی موسی پریښوده قارون پسی ځه
او د عیسی په ځای دجال خوش کړه

وائی له ښو به دی ځنځیرلری کړم
خو ته دې فکر له یو جال خوش کړه

وائی یار پریښوده په ربیار مین شه
وائی د لال په ځای دلال خوش کړه

* * * *

وائی دې زهرو ته ملهم ووایه
راشه دی بوت ته مې صنم ووایه

زما دی کو ښو ته سلام و کړه
دغو از غو ته مې ارم ووایه

زما غمو نه په ښادی و نیسه
هری ښادی ته دی لوی غم ووایه

زما بارو نو ته دی ملا کړه تپه
خیر که دی ډیرته ورته کم ووایه

وائی چه ماته سجده و لګوه — کومه که راشه مسلمان جوړ شه
وائی چه طور او سینا خرڅ کړه په مونږ — راشه دخپل کاله شیطان جوړ شه
سترګی کړه تیټی او شمله دی نیغه — د لته غلام شه هلته خان جوړ شه
دبیو قوفو دې جنت ته راشه — یکښی بالکې می دباغوان جوړ شه
راشه دی نوی سرله ، ټنګ ور کړه — بس دی، ښکلا او عشق له، څنګ ور کړه
زما په بوټی شه طوبی ئې ګڼه — زما له رنګه ځان ته رنګ ور کړه
زما ډیران ته سلامی و دریږه — بازه! دې چرګی ته قلنګ ور کړه
وائی په دی دکان څه واخله راشه — هر څه به در کاندی خوننګ ور کړه

* * * *

مګر زه مینه د دلبر ساتم — سر په سینه ز د مه ځیګر ساتم
دهغه مینه دسر تاج دی زما — که سر می ځی خودا افسر ساتم
هغه زما د رفعتو نو و زر — د شفق تلو ته دا و زر ساتم
هغه زما دلیونۍ مینې هل — دهغه یا د شام او سحر ساتم

* * * *

ما ته به مینه رفعتو نه ښیی — د جانان سترګی به ګلو نه ښئی
زه به د عشق په لار ښودنه ځمه — ماته به حسن ګلزارونه ښئی
وړم به میرو ته د الفت پیغام — چه هر خزان ته بهارونه ښئی
زه به دطور خوا کښی رازونه غواړم — دا به مې سترګو ته نورونه ښئی

* * * *

دا که ګناوی ما مجبور وګڼیء — که مخکښی داروی ما منصور وګڼیء
خلکه که عشق رانه پښتو غواړی — نو زه پښتون یم ماتر بور وګڼیء
منم! لارستوغه ده پیچو می ډیر دی — خو دا دمینی یو دستور وګڼیء
چا معشوقی دی په ډیریان موندلی — دغه مقام په کوه طور وګڼیء

* * * *

زما له څاڅکی نه طوفان ځار شه — زما له زمکی نه آسمان ځار شه
دعشق له کوره می جهان لوګی — زما غوټۍ نه ګلستان ځار شه
ماته خو هر څه مینه مینه دیار — له دغی مینی این و آن ځار شه
سترګی اوزړه او ارمانونه می ټول — په زر زر واري له جانان ځار شه

ښاغلی م ' سمسور ساپی

د زړه آواز

ای خاونده د وحدت له بحره جام را
په دنیا کښی د ژوندو په څیری نام را
یا په ژوندمې دژوندو همت نصیب کا
یا په خاورو کښی دمړو په شان آرام را
یامې ګور په تورو خاورو کښی څرګند کړی
یا ښا بسته ددی آسمانه پوری بام را
یامې دواړه پښی غوڅی کړی له تنه
یا د تللی قافلی پسی تیز ګام را
یامې سرباندی دخاورو څلی جوړ کا
یا وما ته د هما په څیر مقام را
یاخو ماله دنیا ژرورك کړی خاونده !
یا د زړه پوری نژدی غښتلی کام را
چه ناحقه د پښتون په سر حملی کړی
په خپل فضل دبدل قوی اندام را
رڼائی چه د پښتون د سبا و کړی
دافق په جزیرو هغه ماښام را
چه د شك او تردد لاس په کښی نه وی
پټ په زړه کښی دتصدیق هغه الهام را
چه شکست د هیڅ قوت ترمخ و نکړی
الهی په خپل کرم هسی قیام را
دا زما دعا قبوله په دربار کړی
پاك خاونده د زخمی زړه التیام را
«سمسور» ستاهیله نیولی په آغاز کښی
په خپل فضل او کرم دښو انجام را

ع: مالك، جوهر، صديقي

ديو محكوم پشتونستاني خاطره

نشم ويلي په ما خاندي ولي — ته خپله خانده ماژړا ته پريږده
يا دستم څخه دي لاس ونيسه — يا ما مظلوم شور او غوغا ته پريږده
څيري گيريوان مي رسوائي جوړوي — دا رسوا مينه مي سحرا ته پريږده
چه اواره کړم اضطراب د مينې — لږ ما. کيفو نو د سهبا ته پريږده

تر څو هوس ندي قربان شمه زه
نه د خپل قام او نه د ځان شمه زه

دغم صحنې چه درته يادې کړمه — زهيره ژبه مي وينا ته پريږده
يا مي خو خوشي کړه چه خوشي گرځم — يا مي د خپل کور روزگار ته پريږده
بيگاه مي سترگي خوب ته وويلي — په ما حرام شوې ما سودا ته پريږده
يا مي قربان کړه د خپل خياله ځينې — او يا مي د خپل خيال او رضا ته پريږده

د پښتنو نه به محشر شي جوړ
زما له دغو اوښکو به کوثر شي جوړ

دافغان برم

(۲)

چو شمشیر زن گرز دستان بدید — همیکرد ازو خویش تن ناپدید
گریزان شماساس و گردان همه — پراگنده چون روز باران رمه
کمان را بزه کرد زال سوار — خدنگی بدو اندرون راند هوار
بزد بر کمربند گل باد بر — بر آن بند زنجیر پولاد بر
میانش ابا کوههٔ زرین بدوخت — سپر را به گل باد بر دل بسوخت
چو آن دو سر افکنده شد در نبرد — شماساس شد بی‌دل وروی زرد
شماساس و آن لشکر سرفراز — پراگنده از رزم گشتند باز
پس اندر دلیران ز ابلستان — برفتند با شاه کابلستان
چنان شد زبس کشته آوردگاه — که گفتی جهان تنگ شد بر سپاه
سوی شاه ترکان نهادند سر — کشاده سلاح و گسسته کمر
شماساس چون در بیابان رسید — زره قارن کاوه آمد پدید
که از لشکر ویسه بر گشته بود — بخواری گرامیش را کشته بود
بهم باز خورد آن دو پاره سپاه — شماساس با قارن کینه خواه
بدانست قارن که ایشان کی‌اند — ززابلستان تاخته برچه اند
بزد نای رویین وبگرفت راه — به پیش سپاه اندر آمد سپاه
برین لشکر خسته و بسته خورد — بخورشید تابان برآورد گرد
گریزان شماساس با چند مرد — برفتند از آن تیره گرد نبرد
سوی شاه ترکان رسید آگهی — کز آن نامداران جهان شد تهی
دلش گشت پر آتش از درد و غم — دو رخ را بخون جگر داد نم

دعلامهٔ فردوسی ستر مورخ له پوزتنی لیکنی څخه مخ کندیږی چه دبنبتانه قوم په هغه عصر کښی خوراستر عظمت او لوی برم درلوداو داسی غښتلی پالوانان او پیاوړی جګړن ئې درلودل چه به هیڅ ډول ئې دچازور او تیری نه دی زغملی او هیڅ کله ئې خپل استقلال او آزادي له لاسه نه ده ایستلی . لکه چه دماوراء النهر خورا زیاتی اوسر تیری لښکری ئې داسی تارمار کړلی چه دبنبتنو له کلک ضرب او کګار څخه ټولی محواونباه شولی ، او دهغوی باچاله داسی ناحقه تیری څخه دیر بنبیمانه شو ، او داسی غمجن شو چه له ډیری غصی او خپګان څخه یی داوښکو پرځای وینی له ستر ګو څخه جاری شوی وی .

دمهراب په‌عصر کښې دوهمه پیښه :

دهغه پیښه‌ده چه‌دهغه عصر دپښتنو برم او عظمت یې په‌زیاته لوړه درجه اثبات کړی دی او دهغو دمقام او حیثیت ډیر جګوالی ورڅخه څرګندیږی ، او داسې یوه تاریخی لیکنه ده چه‌په‌دی عصر کښې پښتانه ورباندی ویاړ او افتخار کولای‌شی .

او پښتون قوم چه‌په‌هرعصر کښې دخپل غیرت . شجاعت او تاریخی پیاوړتوب او برم دعوی کوی هغه په رښتیا کولای شی او رښتیا ده .

هغه پیښه په داسې ډول وه : هر کله چه «زال زر- یا دستان سام» چه په‌پخوا زمانه کښې د کابل امیر یاد پښتنو دپخوانی مهراب نومی تولواك له‌خوا د کابل په‌سیمو کښې نائب الحکومه ؤ، او خورا غښتلی او بو نامتو پالوان او زیات جګړن عسکری سالار ؤ ، نو نوموړی مهراب دهغه‌دزیاتی خپلوی حاصلولو په‌لحاظ خپله (رودابه) نومې لورده ته په نکاح ورکړه او دی ئې ښه صمیمی خپل کړ او دهغه غښتلی او نامور پالوان زور ښه‌ور سره ملګری شو او دی زیات زورور وګڼل شو .

دپښتنو دپاچا مهراب او دزال زر ددې خپلوی انګازه او غږ په نړۍ کښې خپور شو . او دهغه عصر دایران باچا (منوچهر- یا منوچترا) هم په‌دې واقعه خبر شو چه‌زال زر د بست دپاچا مهراب زوم او خپل شوی دی نوله دغی لاری خورا زیات خپکان او اندیښنه ورته پیدا شوه او زړه یې له درده ډك شو او خورا زیاته خطره او دخپلی دایران دپاچهی د زوال او تللو ویره یې په دماغ کښې ورپیدا شوه . نوله دې کبله نوموړی دایران دمملکت باچا منوچهر دخپل سلطنت اراکین او لویان راوغوښتل او ورسره یې مشوره او مرکه وکړه . ورته یې وویل چه دپښتو نخوا باچا مهراب خپله رودابه نومی لور د کابل والی پالوان دستان سام ته ورپخنکاح کړې ده او له‌دې امله ددوی په‌منځ کښې خپلوی او دوستی زیاته ټینګه شوه او وئې ویل چه تاسی ته خو څرګنده‌ده چه‌نوموړی سلطان مهراب خو د پښتنو دستر باچا (سهاك) مشهو په‌ضحاك ځوځات او نسل دی . او تاسی ته‌معلومه ده‌چه سهاك خو زما پرنیکه او دایران پرستر تولواك (جمشید- یما) باندی حمله کړی وه او دایران پاچهې ئې ورڅخه واخیستله او زیاته موده نوموړی سهاك پرایران باندی باچاهی وکړه او س هم ماته ډیره ویره راپیدا شوې ده چه‌مهراب چه دهغه سهاك له‌نسل څخه دی او س له‌دستان سام سره یو او ډیر خپل شو او زور ئې زیات شو نو ویره کیږی چه بیا پرایران باندی یرغل ونکړی او لکه خپل نیکه غوندی به‌دایران مملکت او پاچاهی له‌مونږ څخه واخلی نو لازمه ده چه‌په‌دې باب کښې مونږ فکرو کړو او له‌دې خطری څخه ځانونه وژغورو .

ددې واقعی او دنوموړی منوچهر دخطر یې او ډاډ دایران مورخ علامه فردوسی طوسی

پەلاندی ډول تصویر اوخلاصه کړې ده :

فردوسی ویلی دی :

پس آگهی شد به شاه بزرگ ز «مهراب» و (دستان سام (۱) سترگ
زپیوند مهراب واز مهر (زال وزآن هردو آزادهٔ با همال (۲)
«منوچهر» ازین کار پر درد شد ز مهراب و دستان پر آزرد شد
سخن رفت هر گوشه بامؤبدان (۳) به پیش سرافراز شاه ردان (٤)
چنین گفت با بخردان (٥) شهریار که برما شود زین دژم (٦) روزگار
چه ایران ز چنگال شیر و پلنگ برون آوریدم برای و بجنگ
فریدون ز ضحاك گیتی بشست بترسم که مهراب زان تخم رست (۷)
نباید کنون خیره عشق (زال) نهال سر افگنده گردد همال
چواز دخت مهراب وازپور (۸) سام بر آید یکی تیغ تیز از نیام
بیکسو نه از گوهر ما بود (۹) چو تریاك با زهر همتا بود
کند شهر ایران پرآشوب و رنج بدو باز گردد مگر تاج و گنج
بسان نیا اژدها کی ضحاك ز تخم کیان کند بوم پاك (۱۰)
بگوئید تا این چه رای آورم که این داستان را بجای آورم
نباید که این کار گردد دراز بخم اندر آرد سر سرفراز (۱۱)
کنون این سخن راچه پاسخ دهید بکوشید تا رای فرخ نهید
همه مؤبدان آفرین خواندند ورا خسروی پاك دین خواند
بگفتند کز ما تو دانا تری بیا یستها بر توانا تری

---

(۱) دستان سام، دزال زر بل او کنیه نوم دی او سام دزال دپلار نوم دی . (۲) دشریك اوا نبا زاو مشابه په معنی دی برهان- (۳) موبدان دموبد جمع دی موبد هوښیار اوعالم . (٤) ردان دردجمع دی رد دعالم؟ خکیم، پالوان شجاع اوبها در په معنادی. برهان (٥) بخردان دبخرد جمع دعاقل، اوپوه په معنادی (٦) تیاره اوتاریك منوچهروایی چه له دې واقعی څخه زما روزگار تاریك اوزه په غم اخته شوی یم .

(۷) منوچهروایی: چه مهراب دسهاك مشهور په ضحاك له تخم څخه دی اوسهاك خوهغه ؤ چه زمونږ وطن ایران ئی نیولی ؤ له جمید څخه نوځکه زه هم ورڅخه ویریدلی یم . (۸) پوردزوی په معنادی یعنی دمهراب دلور اودسام دزوی زال زر له توصل څخه به تیره توره منځ ته راشی، نوځکه دی ورڅخه ویریدلی دی .

(۹) منو چهروایی چه دی زمونږ له نسب اوقوم څخه نه دی، اوددوی قوم او نسب کیان دی اودمهراب دنیکه سهاك لقبی نوم (بیور اسپ) دی دده اودده دنوری سلسلی له دغه د(اسپ) له لقب څخه څرگندیږی چه همدا داسپی اواسپه کورنۍ ده، اودمنو چهرله دې بل بیت څخه چه وایی چه دکیان له تخم څخه یی بوم (وطن) پاك کړ، څرگندیږی چه داسپه کورنۍ دافغانسان یوه جلااومستقله شاهی کورنۍ دهء داسی نه دی چه دکیان له کورنۍ څخه یو خاښ اوله هغی څخه داجلا راپیدا شوې ده. (۱۰) له دی بیت څخه خورابنه ثابتیږی چه دایرا نیانو او دهغو دباچا منوچهر په نظر کښی دپښتنو اودهغوی دپاچاحیثیت اومقام څومره لوړ دی ! ؟ (۱۱) دمنوچهر له دی وینا څخه ښکاره کیږی چه دپښتنو په مقابل کښی دوی څومره ځان ټیټ او کښته گڼلی .

دنوموړی مورخ علامه فردوسی له پورتنی لیکنې څخه څرګندیږی چه پښتانه تېر په پخوانیو زمانو کښی خورازیات شوکت اولوړ برم لاره چه ډیر زورور قومونه د دوی له عظمت او پیاوړتوب څخه وېرېدل او هیڅ وخت پر دومی باندی چا بری نه دی موندلی، لکه چه په هغه عصر کښی دایران دمملکت خورانامتو اوستر باچا منوچهر چه دهغه عصر د ایران باچا ؤ دی پخپله اعتراف کوی او دپښتو له قوم او ددوی له تولواك څخه ځان او خپل هیواد په خطر کښی ښیی، او اقرار کوی چه دپښتانه ددغه اوسنی باچا مهراب نیکه چه سهاك نومید. زمونږ وطن ایران نیولی ؤ، او لکه چه درست مورخین وایی (چه څوسوه کال دغه سهاك نومی پښتانه باچا پر ایران باندی باچاهی کړې ده) نوله همدغه امله مونږ کولای شو چه پخپل پخوانی تاریخ وویاړو چه نورو خلکو هم زمونږ په برم او تاریخی عظمت باندی اقرار کړی دی! او دپورتنی موضوع څخه بله دا خبره اثبا تیږی چه: هغه وخت چه منوچهر (منوچترا) په ایران کښی باچا ؤ، په هغه عصر کښی زمونږ دپښتونخوا تولواك دغه (مهراب) ؤ او دی همداډول یو باشوکته او ددبدبې خاوند باچا ؤ، چه نوموړی منوچهر دایران باچا ورڅخه په ویره او خطره کښی ؤ چه یعنی لکه دخپل نیکه سهاك په څیر ایران له دوی څخه ونه نیسی او داخو هیڅکله منوچهر ته په زړه کښی نه ور تیریدله چه دی دې د پښتنو پر وطن افغانستان باندی حمله وروړی او ودې نیسی.

نو دځینو اشخاصو دا لیکنی چه زمونږ په کتابونو کښی یی لیکلی دی چه دایران منوچهر (منوچترا) زمونږ دپښتونخوا باچا ؤ، له حقیقت څخه ډیر اری دی او بی له حقیقت څخه او په پټو ستر ګوئې لیکلی دی، نو ښایی چه مونږ باور ور باندو نکړو، بلکه راته لازمه ده چه دده او دداسی نورو اسنادو له مخی داډول بی حقیقته لیکنی په کلکه تردید کړو او پری نږدو چه څوك زمونږ تاریخی برم او عظمت تر پښو لاندی کړی او په ناحقه او له خپلی خېټی دپښتانه تېر کمه وو ایی.

بین المللی یا دهر چاژبه

دپخوازمانی و کړوهمدا آرزو درلوده چه یوه مشترکه ژبه ولری او دیوبل په حال سره خبر شی. دوی پدی معتقدو. چه دا کار به هرډول مرستی، تمدن، تهذیب او نوری اجتماعی ښیګړی چه اوس دیوې تولنی په مابین کښی انحصار دی دنورو کورنیو ره په آسانی مشترکی کړی او دیوی مشترکی ژبی په برکت به دنړی دهر ګوټ تبردنو رو قومونو دوستی او ګډ تعاون ته حاضرشی دبابیل ددوری لیکونکی عقیدلری چه انسانانو په رومبی سر کښی یوه مشترکه ژبه درلوده خودشخصی مغروریت او استغناد کبله ورکه شوه.

وروسته انسانانو کوښښ وکړ چه دغه معنوی او دلوړ قیمت غمی بیرته لاس ته راوړی مګر افسوس چه لخانی تراوسه ددغه کار لویه مانع شویده.

دا صحیح ده چه دهری ژبی ویونکی وائی چه په دنیا کښی یوه ګډه ژبه ضروری ده خویدی هم ټینګ ولاړدی چه همه ژبه باید زما دقبیلی یا ملت ژبه وی خرنګه چه په نړۍ کښی لږ تر لږ ه (۲۷۹۶) ژبی شته نویدی ډول (۲۷۹۶) تولنی وجودلری چه هره یوه دملی احساساتو د مخی دا ادعالری چه زما ژبه دبین المللی ژبی ترعهدی په آسانی و تلای شی، او دنړۍ تول وګړی باید به دغه لوست اولیك وکړی په حقیقت کښی اکثره تولنی خصوصاً وړې تولنی دا سی ادعانه کوی مګر لوی او مشهور ملتونه دخپلی ژبی په وسعت او اهمیت پوره اعتماد لری او دیوه منطقئی کاندیدپه څیر خپل چمتووالی دغه بین المللی کار ته ښکاره کوی او پردغه سخت ټینګار لری دمثال په ډول بریتانیا او امریکا دانګلیسی، روسیه دروسی، فرانسه دفرانسوی، جرمنیان دجرمنی او هسپانیه دهسپانوی ژبی دبین المللی کولو شدیدانتظار لری.

دا ملتونه هر یو دلحان دپاره ښی معقولی بهانی لری چه ذکر کول ئی دا ته لازم ندی خو پر لاندی څو یو ښتنو رڼا اچول ضروری دی.

آیا یوه داوسنیو مشهورو ژبو څخه دبین الاقوامی ژبی دو ظیفی دپاره کافی ارزش لری؟

آیا که یوه تا کلی ژبه په توله نړۍ کښی دلوست اولیك دپاره قبوله او منظوره شی، ګډی ګټی به ولری؟

آیا که یوه بین المللی ژبه میدان ته راشی، دانوری ژبی به ورکی شی؟ آیا دغه متحدالشکله بین المللی ژبه به دهر محیط دجغرافیائی او اجتماعی تاثیرلاندی جلاجلا شکلونه اولهجی پیدا کړی که یه؟

یوجلا وطنه سړی چه دنابلد مملکت څخه تیریږی دژبی په اهمیت ښه پوهیږی او دا مشکلات ښه تراحسوی ځکه چه دغه سړی خپل ځانی خواهشات، اړتیاوی او نظریات نشی اظهار ولای او یوازی دژبی له اشاری څخه کارا خلی که په نیویارك کښی دملګر و ملتو ما نۍ ته ولاړ شو، واضح لیدی کیږی چه تر (٦٠) زیات دمختلفو مملکتو نما یند ګا ن د یو بل پوهولو دپاره مختلف عملیات او آلات استعمالوی او زیات وخت او زحمت تیروی ترڅو یو دبل په آرزو ګا نو خبرشی طبیعی ده چه یو انسان پس له ډیر زحمت او حوصلې یوه یا څو پردی ژبی زده کوی خودا امکان نلری چه (٢٧٩٦) ژبی زده کړی بلکه ډیره مشکله ده چه په (١٣) مشهورو ژبو و پوهیږی .

ددغه سببه یوه مشترکه ژبه په نړۍ کښی دهر ملت دمحلی ژبی سره اړخ پراړخ ضروری ده، ځکه چه دا کار په سیاحت، تجارت، تخنیك پوهنه او نورو همکاریو کښی لویه اغیزه لری ددغه کار په برکت به یو نفرو کړای شی چه دخپلی محدودی توانی په عوض دنړۍ د (٢٥٠) بلیونو و ګروسره په ژبه پوه وی .

آیا ددی کار دپاره عملی کوښښ شویدی ؟

هو! په تیره زمانه کښی لاتینی او یونانی دروم دپراخی امپراطورۍ په میانځ کښی دمشترکو ژبو حیثیت در لود، که څه هم پدی درنه امپراطورۍ کښی توله دنیا شامله نه وه خود دنیا ډیره لویه حصه لکه بریتانیا، فرانسه، بلجیم، هالند، هسپانیه، پرتګال، سویزرلیند، هنګری، ترکیه، اسرائیل، لبنان، سوریه، جوردان، مصر، لیبیا، الجیریا، تونس، مراکش، شمالی جرمنی، لهستان، ایران او نور مملکتونه پکښی ګډ شوی وو نو دنړۍ په دغه لویه برخه کښی لاتینی دحکومتی، نظامی، او سیاسی چارو دپاره او یونانی د کلتوری کارو دپاره استعمالیدله خو په تجارتی کارو کښی ددواړو ژبو څخه کار اخیستل کیده .

ښکاره خبره ده چه په رومبی سر کښی یوازی دهری طبقې دسواد خاوندان پدی مشترکو ژبو پوهیدل مګر وروسته ډیر ژر لاتینی په لوېدیز کښی او یونانی په ختیز کښی دروم لویی امپراطورۍ عامی ژبی شوې او ډیری ګټی ئی په هغه وخت کښی درلودې، دروم رسمی اشخاص او تجار پدی اطمینان چه دوی دنورو او نور ددوی په ژبه پوهیږی دلویی بریتانیا څخه ترکیې، د مصر لویی صحرا او د جرمنی ترځنګلو پوری هری خوا ته سفرونه کول.

او درومې امپراطورۍ دپاره عسکر دهری علاقی څخه په آسانۍ تهیه کیدلای شوای ګله چه دروم امپراطوری ړنګه شوه نو دغه مشهورو ژبو خپل اهمیت بیا هم ژر دلاسه ورنکړ بلکه هره یوه په خپل محیط کښی پاته شوه،

دمنځنۍ پیړیو (قرون وسطی) په جریان کښې لاتینی په څورومی ژبو تبدیله شوه او همدا لاتینی په غرب کښې د کلیسا، ادبیاتو، او نرو علومو ژبه شوه په ښوو ینځو او پوهینځو کښې یوازی لاتینی لوستل کیده او ددی سبه اروپائی زده کونکو دانګلستان د آکسپورډ په پوهنځی کښې، یا د پاریس په ساربون کښې، یا د ایتالیا په بولاګنای کښې یا د هسپانیی په سالامانکا کښې، یا د جرمنی په هیډلبورګ کښې، یا د براګ په بوهیمیا کښې، او یا د پولنډ په کراکاو، یا بل هر پوهنتون کښې بېله مشکلاتو خپلی زده کړی پر مخ بیولی.

او په دغو تولو پوهنځیو کښې یوازی لاتینی ژبه تدریس کیدلو دا لریه ژبه په (۱۴۰۰) ق م کښې مخ پر کښته شوه او وګړو په انګلیسی، فرانسوی، جرمنی، ایتالیائی، او هسپانوی ژبو لوستل، لیکل کرار کرار زده کړه.

که څه هم یونانی ژبه د (۱۵) پیړۍ په سر کښې بیا میانځ ته راغله خو لاتینی هم زیاته استعمال کیدله مګر د (۱۷) پیړۍ په سر کښې ملی ژبو دومره زیاته توسعه وموندله چه پورته دواړی ژبی له خپل اهمیت څخه لری شوی.

ددی ټکی له مخې دا خیال لمړی ځل څو تنو ته ورپیدا شو چه داسی یوه نوی بین المللی ژبه جوړه شی چه هیڅ معین مملکت او ملت ته منسوبه نه وی او ددغه ښه سبب له برکته به د هر چا د خوا قبوله شی.

ابتدائی زحمتونه ددی مقصد دپاره د پوهانو له خوا عملی شوه چه یو د هغو څخه (ډیکارتس) نومیده مګر له بده مرغه دوی له ښی نتیجې سره مخامخ نه شوه.

ددی ناکامۍ په وخت کښې فرانسوی ژبه د بین المللی ژبی په حیث میدان ته راغله ځکه چه فرانسه په دی وخت کښې د اروپا معظم او مشهور مملکت ؤ مګر په نو نسمه پیړۍ کښې انګلیسی او جرمنی ژبو فرانسوی ژبه پرشا کړه. او په شلمه پیړۍ کښې هسپانوی، روسی او چینائی ژبی په هغوی پسی دغه د مسابقی ډګر ته راغلې،

د (ډیکارتس) دوخت څخه تر اوسه تر پنځه سوه ځله زیات اقدامونه شویدی او مختلفو کسانو پدی کار ګرتی پوری کړیدی، خو تر ټولو د (اسپرانتو) کوښښ ډیر نریالی دی اسپرانتو بالکل یوه نوی ژبه ده چه د یوه پولنډی پروفیسور (دو کتور زامنهوف) پواسطه په نولسمه پیړۍ کښې پیدا شویده اسپرانتو یوه ډیره ساده او آسانه ژبه ده چه ډیر توری یی د انګلیسی، جرمنی، لاتینی او یونانی ژبو څخه اخیستل شویدی.

په دی وروستو کلو کښې د علمی ژبی پوهانو د یوه هیئت له خوا یوه بله نوې ژبه چه (انټرلانګوا) نومیږی او د انګلیسی او لاتینی رومی ژبو څخه پیدا شویده، د بین المللی ژبې

دپاره ترتیب شوه خود (اسپرانتو) وسعت اوویونکی ورځ په ورځ زیاتیږی او (انټرلانکوا) تر اوسه چندانې شهرت ندی پیدا کړی.

که (اسپرانتو) دچازده وی نو خپل اسپرانتی ملګری به دنړۍ په هر مملکت کښی پیدا کړی. هرڅوك چه پدغه نوی ژبه یوهیږی یو کوچنی زرغون ستوری چه داسپرانتی ژبی مخصوصه علامه ده پرخپل ټټر ځړوی

ددغو نوی بین المللی ژبو دپیدایښت سره دڅوملی ژبو لکه انګلیسی، فرانسوی هسپانوی، روسی اوچینائی دبین المللی کولوله له پاره هم پیشنهادونه وړاندی شویدی خودا بار دملی غرور پرزیاتوالی سربیره داتاوان هم لری چه که دهرملت ژبه بین المللی شی دنوروټولو مملګنو میلان دهغه تا کلی مملکت اوملت خواته وراوړی اودهغه مملکت اجتماعی افکار. عادات، کلتور، عنعنات اونور پرټوله نړۍ خپل طبیعی نفوذ او اغیزه اچوی.

مثلا که انګلیسی، فرانسوی، یارومی ژبو څخه یوه بین المللی شی نودنړۍ زیات خلق به د امریکا، برتانیی، فرانسی اوروسی علی الترتیب دافکارو تابع شی.

زمونږ لوی انتقاد په ترکیب کښی دیوی نوی بین المللی ژبی دادی چه حقیقتا داژبی په دپیړیو پیړ دوزړه ژبو په څیر نشی کولای چه دهرډول طبیعی افکارو اودعصری نړۍ دهرډول مشینری ضروریاتو نمایندګی وکړی.

په یای کښی داویلای شو چه بله لویه ورانی چه تراوسه په نوی بین المللی ژبو کښی لیدل شویده داده چه داسی ژبی دغربی اروپا اوامریکائی ملتو خواته زیات زوروهی اودهغوی دژبو آثار ترکیبونه اودهغی خوا دخلقو افکارلری. اودسلاوی، آسیائی او افریقائی ژبو لغات، عادات، اودتفکر طرز پکښی ډیر کم اویا نشته.

ځینی خلق پدی خبره تعجب ښکاره کوی چه دبین المللی ژبی دپیدایښت له پاره تراوسه ولی لویه توجه نده شوی. داکار چه په ټولو پوری زیاته اړه لری خصوصا په ملګرو ملتو او د یونسکو په مؤسسه پوری چه دنوی دنده همداسی بین المللی اجتماعی همکاری ده. او ددغه کارموجودیت ددوی په چارو کښی ډیر اهمیت لری ځکه ددوی پروګرامونه او کوښښونه به په سرعت پرمخ ولاړسی دپورته پوښتنی غبرګون دادی چه لویه سختی دانتخاب په مسئله کښی ده یعنی تراوسه بین المللی موافقه نده حاصله شوی چه آیا یوه نوی ژبه ترکیب شی او که یوه دلویو ژبو څخه په بین المللی صفت وپیژندله شی، که یو وار داوشی نو کار به هم ژرسرته ورسیږی.

ځکه چه تاکله شوی او قبوله شوی ژبه به دټولو مملکتو په عرفانی پروګرام کښی په مساوی ډول شامله کړه شی او د (۲۰) کالو په جریان کښی به دټولی نړۍ خلق دراډیو تلویژن او سینما په واسطه بین المللی ژبه زده کړی . هر څوك به سربیره پر خپله ملی ژبه په منلی شوی بین المللی ژبه یوه وی ، او دغه نوې ژبه به دنړۍ په هر مملکت کښی سر بیره پر ملی ژبه رواج ولری پدی وخت کښی به هر څوك هر ځای ته په آسانی سفر کولای شی تجار ، دسائنس پوهان ، سیاحین ، زده کوونکی ، او بالاخره بین المللی وګړی او هیئتونه به پر ډیر سهولت او خوښی دیو ځای څخه بل ځای ته ولاړ شی او هلته به بین المللی ژبه لکه مورنۍ ژبه دهر چا زده وی هغه کسان چه په کور کښی وی هم دبین المللی ژبی څه زیاته استفاده کولای شی . ځکه دراډیو مشترك پروګرامونه ، اخبارونه او سینما ګانی به په عمومی ډول په بین المللی ژبه وی .

ترټولو لویه او مهمه فایده چه دنیا ، له بین المللی ژبی څخه توقع لری هغه دملتونو په منځ کښی ګډ اتفاق ، یووالی ، او دوستی ده ځکه هغه کسان چه په ژبه سره پوهیږی طبعاً زیاته دوستی نسبت هغو کسانو ته سره لری چه په ژبه ئی نپوهیږی ځکه پو دبل په احوال او آرزو ګانو ښه ترا پوهیږی .

ځینی کسان خیال لری چه دبین المللی ژبی شکل به په هر محیط کښی ځانته خصوصیات پیدا کړی او مختلف شکلونه او یا نوری کچنۍ ژبی به ځینی پیداشی ، مګر ددی تصور امکان خورا لږدی . ځکه چه مونږ اوس پداسی تاریخی علمی او سائنسی عصر کښی ژوندلرو چه په هره دقیقه کښی دنړۍ دهر ګوټ احوال په لاس راځی او دهر کوچنی تحول اطلاع لرو . نو په ټینګه ویلای شو چه پدی نوی ژبه کښی به هر ډول محیطی پیښی او چغرافیائی تأثیرات بی اثره وی او په یوه عمومی سټنډارد به په هر ګوټ کښی پاته شی او هم پدی ډول به په هیڅ دمحلی ژبه دبین المللی ژبی تاثیر او نفوذ پری نه وی . ددی خبری ژوندی مثال په بلجیم او کانادا په کیوبیك کښی شته چه په اول کښی فرانسوی او جرمنی او په دوهم کښی انګلیسی او فرانسوی یو ځای دمحلی ژبو سره استعمالیږی او یو پر بل ئی

هیڅ اغیزه نده ښندلی کله چه بین المللی ژبه انتخاب او رواج شی زاړه خلق ښائی دهغه په زده کول کښی کوښښ او تحمل ونه کړلی .

مګر کله چه کلونه او پیړۍ تیری شی د بین المللی ژبی اهمیت او استعمال به دومره ډیر شی چه د محلی ژبی ترویج او تعمیم به ډیر محدد او تنګ شی . پدی ځای کښی یوه بله پوښتنه پیدا کیږی چه آیا د بین المللی ژبی د رواج په اثر به انګلیسی، فرانسوی، جرمنی روسی او نوری مشهوری ژبی دلاتینی او یونانی ژبو په څیر متروکی شی او یوازی به د کلتور پیژندلو او علمی مقصدو د پاره استعمالیږی ، او د مروج او عادی استعمال څخه به ولویږی ؟

دا احتمالی پیښه پس له ډیرو پیړیو څخه امکان لری خو هغه وخت به بیله دغه هم اوسنی ژبی ډیر تغییر پیدا کړی وی او له اوسنی حال څخه به ډیر فرق لری .

او دهغه زمانی خلقو ته به د اوسنی زمانی ژبی داسی ښکاریږی لکه اوس چه د (چاوسر) ډیر زاړه انګلیسی آثار پر مونږ عجیب تاثیر لری .

د بین المللی ژبی پرابلم زمونږ په عصر کښی یو ډیر مهم او ضروری مسئله ده . مونږ باید تروسه زیا رو باسو تر څو چه په خپل روښانه فکر دا پوښتنه حل کړای شو .

مونږ پدی خبره هم زیات اعتماد لرو چه هر قوم ته لازمه ده د خپلی ملی ژبی په پراختیا کښی هاند وکړی او دهغه دویلو او لیکلو په ترویج او تعمیم کښی ځان ستړی کړی او هر څوک خپله ژبه شیرینه او مهمه وګڼی .

څرنګه چه په دنیا کښی په هر لس کسو کښی نه خلق په بله ژبه زغیږی نو باید دا میل هم وساتو چه یوه یا څو پردی ژبی هم زده کړو . یو ددی سببه چه هره ژبه طبیعی ښه وزیتونه لری او بل ددی سببه چه د هغوی رڼا پر مونږ لویدلی ده .

پر هر څه سربیره دا زمونږ په فکر کښی ځای باید ولری چه ژبه یو لوی بی قیمته نعمت دی . او په لو اندازه زمونږ د ژوندانه په کارو ، مرسته کولو، تهذیب او تمدن کښی برخه لری او بیله ژبی څخه انسانان هم د حیوانانو په ډله کښی شمیرل کیږی .

ژبه د تولو هغو مادی او معنوی قوتو او لوی ثروت سرچینه ده چه موږ تر اوسه ورسره مخامخ شوی یو او یا به آینده زموږ په نصیب شی . (پای)

افتتاحیه وینا

درنو مېلمنو!

ترهرڅه دمخه تاسو ښاغلو ته ددې بلنې دمنلو کورودانۍ وایم او وکالتاً دپوهنې دښاغلي وزیرچه نن متاسفانه په کومه بله غونډه کښې اړو، سلامونه گران مېمه ښاغلي حمزه ته رسوم ښاغلو پوهاندو:

څرگنده ده لکه څو نگه چه دگلو وزمې دباغو په جگو دیوالونه راگرزي او دبلبلو لوی کوکی دقفس په غولي کښې بندي نشي پاتېدلای همدغه رتگه دعلم وادب پلوشي دسیاسي حدودو اوجغرافیایي موانعو تابعي نه دي او وخت وزمان هم د دوی په تاثیر کښې څه زیات توپیر نشي راوستلای.

غربیان که دار نیستاین په افکارو نازي دابن سیناله آثارو څخه هم الهام اخي فلاطون که داستوگي له امله د یونان باله کېږي خوافکارو آثاریي دافادې په لحاظ دنړۍ گوټ گوټ خپلوي،

دخوشال دشپیلۍ ږغ که دروح په جگو غرو کښې مړي ژوندي کول په زړونو کښې یې شهامت په غړو کښې حرکت، په وینو کښې گرمي او په احساساتو کښې هیجان راوست تر (۷) غرو او (۷) دروهم تیرشو او دلمرلوئید یزو انسانانو په ډېرو زړو کښې یې محبوبیت و موند شکپیر که خپلي خوږي نعمې داتلانتك دڅپان بحر پر غاړه ویلي خود لټ بحر څنډو ته هم راورسېدلې او ددې سیمو دبشري ذهنو ادبي تنده یې ماته کړه.

د(هومر) تاوده اشعار که ۲۳سوه کاله پخوا دیونانی اسکندر د زړه سکینده ده او س هم دا انسانانو له خولو نه دي لوېدلي او دنړۍ په هره لته کښې یې پر زړو اغیزه شته په غربي دنیا کښې دبنگالي تاگور داشعارو محبوبیت داثابتوي چه علم وادب کورو و ملك نه لري او په سیاسي اوجغرافیایي حدودو کښې محدونشي پاته کېدلای البته جابرقوتو نه به داو کړای شي چه سړي ووژني ملکونه ولوټي مځکې سره بېلي کړي او لوسونه وویشي او ما لونه یې دځان کړي.

خودایی یقیناً په وس نه ده چه شعور او احساس وو ژنی تمنا او آرزو و لونی زړونه سره بېل کاندی مفاخر، ځله وویشی او علم وادب محصور کړی څه شو که اور ژبی، اومبتکر شاعر (حمزه) دافغانستان دلمر ختیزی سیاسی کرښی په ها خوا په هغه سیمه کښی اوسی بوه جابر قوت له لوی پښتونخوا څخه بېل کړی دی .

دده استو گی اعتبار دده دلړ زاندو اوښکو پرهغه اثرچه له کهستانه څخه تر خیبره پوری یی دا فغان ملت د هر سړی په زړه کښی لری څه اغیزه نسی اچولای دده دزړه زغ لکه څومره چه داباسین په څنډو کښی دمینی رازاود ژوند بلنه گڼله کېږی د غور په جگو څکو کښی هم په هغه ستر گه ور ته کاته سی، دده د شعرمر غلری لکه څنگه چه یی د روه په سمه کښی دادب مینان پښتانه په زړونو کښی ساتی، دلته هم پرتولو سخن فهمو پښتنو دزړه گرانی دی او په وباړی پښتو تولنه چه په افغانستان کښی دپښتو ژبې له پاره یوعلمی مرکزدی د حمزه صاحب دآثاروجدت، ابتکار ـ مضمون آفرین علو تخییل او اوچت ادبی مقام ستایی اودده هغوادبی خد متونه چه دپښتو ادب له پاره یی کړی دی په درنه ستر گه گوری .

ښاغلی حسن ساپی

ښاغلو حاضرینو!

داستاد حمزه سوانح

دغه اوسنی مجلس چه دچا په افتخار جوړ شوی دی هغه ښاغلی امیر حمزه خان شینواری نومیږی چه زمونږ د گران هېواد دخپلواکۍ په نه دېرشم تلین کښې د گډون له امله دلرې پښتونخوانه دلته راغلی او نن سبا بېرته له خیره روان دی.

که څه هم چه دی یقیناً تاسو پوره پوره پېژنیء او دده له ادبی او علمی ستر مقام نه هر څوك خبر دی، په تېره بیا هغه ښاغلی چه دپښتون دنیا ته په ښه ستر گه گوری او پښتنی ادب او ادبیاتو سره لږ او ډېره مینه او آشنائی لری. خو بیا هم ددغه محفل له ایجاباتو نه لیرې نده که ددغه استاد لنډه غوندې بایو گرافی تاسو ته واورول شی.

۵۰ کاله پخوا یعنی په کال ۱۹۰۷ عیسوی کښې دپښتونستان په لواړ گی نومی ځای کښې دښاغلی ملك بازمیرخان په کور کښې یوه ماشوم هلك دهستۍ ډگر ته خپل لومړی قدم کېښود او ستر گې ئې پرانستلی، شاوخوائې و کتل، دغه دنیا ورته چه دپښتون دنیاوه عجیبه وبرېښېده او لږ غوندې لومړی موسکی شو خو بیا نپوهېږم چه ولی په ژړا او کو کا روئې پیل وکړ.

خو دده ژړا ته چا نه کتل، کور او کلی ټول خوشحاله وو چا خندل، چا ډزې کولې، چا ئې په غوږ کښې ورته اذان القا کاوه او چا ورته ساز او سرود غږاوه او بیا ځینو اتڼونه کول مگر دې ماشوم لا هماغسې ژړل.

دطبیعت داقتضا سره سم او دزمانې په قید دغه ماشوم ورو ورو په خاړ پوسو شو، چوریکی شوه زلمی شو، ځوانۍ ته ورسېد او دادی بوډا شو خو بیا هم دی لا هماغسې په چغارو دی، دشعر په فصیحه ژبه وئېږی دنثر به بلیغ کلام گړېږی خو کله کله دده بې در ده او بې پروا محیط او ماحول لا هماغسې بده دپخوا په شان خیال کوی او دده دسوز او گداز چیغو او ناروته ځان نه ملتفت کوی او نه ئې اوری.

خو په هر صورت مونږ مایوس نه یو په تېره بیا چه نن سبا په پښتنی دنیا باندې دادی دپوهنې پلوشې خورېږی دجهل او ځان ځانۍ او خود خواهۍ توره پرده لیرې کېږی او دزمانې داقتضا سره سم شعور انکشاف کوی، وجدان تکامل او عقل سرته راځی اوس نو هغه آواز ته چه دولس دخیر دپاره پورته کېږی ډېر خلك لبیك وائې، هغه شعر چه دکام دردو نه ښکاره کوی، هر څوك ئې دزړه په غوږ اوری او هغه ژړا چه جامعې دپاره کېږی ټول خلك متأثر کوی او هغه کتاب چه سمه لیار ښیی هر څوك ئې په شوق اولی.

ددغو ادعاو بوښکاره ثبوت دادی چه، نن ښاغلی استاد امیر حمزه خان شینواری چه دپښتنی ادب په آسمان کښې یو ځلاند ستوری او دپښتنو په درد یو دردمند انسان دی دخپل علمیت او شاعری او ښه خوی په لحاظ دلرې او برې پښتو نخوا دشعور دخاوندانو او دادب دمینانو په زړو کښې یو دستاینې وړ ځای لری.

په رښتیا چه تومړی استاد پخپل وار دپښتو ادب هنګامه تو ده ساتلې او دپښتو ادب ئې پخپل خوازه نظم او نثر رنګین او ښکلی کړی دی.

پدغه لړ کې ئې ډېر شاګردان وروزل چه اوس ده ته دلرې پښتو نخوا دزیاترو زلمو شاعرانو داستادی حق حاصل دی.

ده دپېښور په اسلامیه کالج کښې تر اسم تولګی پورې ولوستل او په څلورو ژبو لکه پښتو، پارسو اردو او عربی باندې ښه افاده او استفاده کولای شی. څرنګه چه دشعر او شاعری استعداد دده په خټه کښې اخښل شوی ؤ؛ دی لا دولس کلن زلمی ؤ چه په شعرو بلوئې ژبه پرانستله

درسمی محیط په اقتضا ئې لومړی په اردو ژبه شعر وایه خو بیا د(۱۳۱۲) هجری کال نه راپدېخوا دښاغلی شیخ عبدالستار په تشویق اولارښودنه په پښتو اشعارو ئې پیل وکړ او دادی اوس په پښتو شعر څلورغټ کتابونه لری.

په نثر کښې هم دلوی لاس څښتن دی او دنثر په دنیا کښې ئې دډراماتیک او رومانتیک سبک چه پدغه عصر کښې ئې مینان ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو دی غوره کړی دی او پدغه لړ کښې ئې دتألیفاتو شمېر او وه کتابونه رسېږی چه ځینې ئې چاپ شوی او ځینې نور ئې دچاپ دپاره انتظار باسی. دلیلی مجنون دپښتو قلم ډرامه دهمدې استاد په قلم کښل شوېده امید شته چه دده له نورو ډرامو څخه چه پدغه منظور ئې لیکلی دی نور پښتو فلمونه هم ډک کړی شی. کله چه څوک دده په اشعارو روڼا واچوی په حماست او اجتماعیت کښې دخوشحال خان خټک او په تصوف او تفلسف کښې درحمان بابا او په مضمون آفرینی او نازکخیالیو کښې دحمید ماشوخېل یو خاص پیرو ښکاره کېږی.

دده اشعار زیاتره عاشقانه رنګ لری او دغزلونو په ترڅ کښې ئې دعشق او مینې دنیا ښه تصویر کړېده صوفیانه اشعار ئې هم ډېر دی خو دومره خبره ده چه دی دتصوف په عالم کښې هم دیو بې عمله او بې میلیته صوفی په حیث نه ودرېږی.

دده دپښتونولی سپیڅلې جذبه دومره زیاته ده چه دده په حماسی او قومی اشعارو کښې خولاڅه چه حتی په صوفیانه اشعارو کښې ئې هم پښتنی رنګ او پښتنی ملیت او پښتنی غریزه په ښکاره ډول لیدل کېږی.

لکه چه وائی:

حمزه سفر که د حجاز وی نو هم

زه د پښتون د قافلې سره ځم

او یا دا :

ما حمزه ته یثربی باده خاونده

په ښاغلی پیمانه کښی د افغان را

په یو بل صوفیانه شعر کښی ئې د پښتو غم داسی خوړلی دی .

وائې اغیار چه د دوزخ ژبه ده

زه به جنت ته د پښتو سره ځم

څرنګه چه د استاد د شعر او شاعرۍ په خصوص کښی لدینه زیات څه ویل د دې مجلس دوخت له حوصلې نه بهر شانته ګڼل کیږی نو دادی د نوموړی استاد شینواری په یو غزل اکتفا کوو ،

استاد وائی :

یو ګل یم دانشا په ګلستان را غلی یم

خندان راغلی یم ځکه پریشان را غلی یم

دعوت ؤ ستا د حسن ، ؤ رهبر د رقیب پل

ستا ورته زما یاره په چمان را غلی یم

عزت دلیو نتوب را باندی ګران دی ګڼی زه

څوڅو ځله درشل ته د جانان راغلی یم

حاصل له ډیرو ښکلیو مې وحدت کړو د ښایست

کثرت د بتکدې نه مسلمان را غلی یم

دا او ښکې او سلګۍ دا سو ېلو سره ز بېر ګی

نن ستا د بی نیازۍ په امتحان را غلی یم

محفل کې که ستا ستر ګې همه ستر ګې دی اشنا

زه ستا د مستو ستر ګو په ارمان را غلی یم

مېزبانی ستر ګې پوه کړه چه خوی نکړی د مېلمه

مېزبانه د خوبۍ ، زه دې مهمان را غلی یم

الفت چه کړو ګلشن د تجرد را ته څر ګند

خوشبوی غوندې له هر څه ګرېزان راغلی یم

ښاغلی حمزه شینواری

ټولنه

ټولنی ډېری په نړۍ کښې شته دی
د لویو لویو دوړو ټولنه
راشیء له لمره به ئې راونښلوو
داد وړووړو زرو ټولنه
بیا نو څادر د رڼا وېرکاندی
د پېغلو شو خو پلو شو ټولنه
نشی تکمیل د فردیت کالبد
وجود چه نه لری تر څو ټولنه
هم وی غومبسی هم د شاتو مچۍ
شته د تر خوا و د خوږو ټولنه
سلیمانی نظام و پاتی نه شو
تر اوسه شته ده دمېږو ټولنه
چه سره ټولی شی ټوک ټوک وریځی
جوړه شی لاندی د شینکو ټولنه
ښه ده پښتو ټولنه ډېره ښه ده
دریغه چه شو ای د پښتنو ټولنه

تا غوڅ په تعلق کړو هم د خولې هم دلېمو
ډېر ډېر چه په تا گران شو مه آسان راغلی یم
دروائې خله اې عشقه مبارک دې آئینه
حیران که گوره لاړمه حیران راغلی یم
حمزه چه مې الفت د گلرخانو ؤ فطرت
بلبل غوندې له ځایه غزلخوان راغلی یم

ښاغلی غمخور

ضرورت دی د ملی عهد تړون بیا

د پنجاب د لوری لړې دی خوریږی — تیز مې راځی په سیمه د پښتون بیا
دغم وریځی می ترستر گو ستر گو کیږی — توفانی ښکاری دورونه د گردون بیا

* * *

اوښکی نه دی وچی شوی لاتر اوسه — د مشرق گریوان لالوند په اوښکو ښکاری
له زړو زخمونو وینی ځی تراوسه — د مشرق جامې لارنگ په وینو ښکاری
د ظالم د ظلم توره بیا تیر یږی — خون کشی ته د مظلومونن پرون بیا

* * *

فضا تته هوا تته شر وشور دی — ساه نیولی شا نته ښکاری د نړۍ رنگ
په حق خوا هو حق پرستو ظلم زور دی — ژړغونی معلومیږی د سدۍ رنگ
د رمنده د امنیت ته اور لگیږی — پاکستان په پښتنو کوی شبخون بیا

* * *

خوا ئې نه ده سړه شوی په ظلمونو — غمځپلی شرق ته ستر گی خړوی نن
تو دوی بازار د قتل او خونونو — در دیدلی شرق دوباره در دوی نن
په ناسور زخمونو مالکه ده دوړیږی — د حریت د دښمنانو په لمسون بیا

* * *

د ظالم او د مظلوم مقابله ده — د رڼا او د تیاری نښتی جنگ دی
د وطن د آزادۍ مجادله ده — د ملی ناموس ملیونو کړی ننگ دی
د جفا په تیغ سرونه دی غوڅیږی — فرزندان د وطن وینمه پر خون بیا

* * *

د یو سیر تو په پڼه د انسانانو — تباهۍ ته د قومونو ایښی دام دی
د دنیا د سولی امن رهزنانو — خونریزۍ ته د بشر تړلی لام دی
ستر گی ډکی دی له اوښکو زړه درزیږی — د مرگی استازی راغلل د ژوندون بیا

پاتی په ۴۸ مخ گڼی

نهگ

د پامیر په غېږ کښې د عصرو نوتر نظر یوه برېښنده ځلاښکاره شوه و دې ځلا ته دحیرت گو ته ترغاښ لاندې پاته شوه، خود تهذیب سرله گر یوانه راپورته شوا و په ډېر زیر ئی ورته و کتل چه دلته تش با نه نشته بلکه داځلا دغبر گولېموده چه په اوښتوئې پر غرب شپه اوپر شرق روځ کېږی ددې لېمو په اوښتو اورا او ښتو کښی هغه د وې اوښکی وبهېدې چه وراتلونکی عصر په نیمه ژبه ورته جیحون اوسیحون وویل، داد وی اوښکی وبهېدلی اولابهېږی خود هغه نهگ ترستر گو نورعالم چه تاتو بی ته ئې نور عالم دجهان بام وا ئی، دلته دزمانی د سړو اوتود واز مایښتونه وشول اولا کېږی. خو ددې نهنگ دتش اوښتو اورا اوښتوسره سم.

و گور و چه بیا هم زمانه ورته د کرم ازمیښت دنا بلدی خیال کړی دی خو دومره باید وویل شی چه ددې نهنگ په شهپرونو کښی دیونان دبلوسو اثر دچنگیز دو ینو سور والی نه پاته شو اونه به پاته شی- دلته دفرنگ کاریگر و ستر گو په ډېر کلک زړه خپل غشی وورول خودماتې لیندی سره ولاړ اولاځی، حتی دزمانی دیادونو له دفتره، داده دهمدې نهنگ ماجرا چه نن هم دیوورو کښی ازمایښت سره ځان اشنا کوی خوداچه بیاهم دلته یاپرده دجفا کاریو اثرلوېږی که یه؟ ددې خبری ثبوت تېره ماجرا ښه ښولی شی.

ژواک

د ۴۷ مخ پاته

غصبو ی پر د ی حقو نه په ظلمو نو — و طنو نه تېر و ی لو یه بـلا د ه
و ر کـو ی نـام و نشا ن دملتونو — سرو مـا ل خور ی د قو مونو ا ژد ها د ه
و رو رله و ر و ره زوی له پلاره چلا کیږی — پـه میدان کښی استعمار تپوی ورون بیا

* * *

چه پر ې نږدیء په و طن د ظلم بوتی — صد قه شیء له خوا ږ ه پښتو نستا نه
ز لمو تینـگ کړیء نن دخپلوتورو موتی — پـا تی نه شی ء په سیالی کښی له هیچا نه
د پښتو اوپښتو نوا لی نو م و ر کیږ ی — ضر و رت د ی د ملی عهد تړون بیا

د ٤ مخ پاتی

زما ورونړو! زه دخپلو تمامو
هغو پښتونستانی ورونړو له طرفه
جه ضمیر ئې بالکل نه وی محوه
شوی د افغانستان د ملت او
حکومت هغه اخلاقی او سیاسی
مرستی او امدادونه چه
د پښتونستان په مسئله کښی ئې
کړی او کوی ئې د زړه له کومی
تشکر او امتنان وایم خصوصاً په
داسی حال کښې چه ودوی ته
پخپله د پنج ساله پلان عظیم الشانه
ذمه واری او فوق العاده فرایض
ور پیش دی. دوعا گویم چه
خدای دی دغه پلان په تمامه
معنی کامیاب کړی چه هم
دوطن د پاره سعادت او هم دوطن
والو دوطن دوستۍ او قوم
پروری د ثبوت سبب شی په
آخر کښی ژه خپله وینا په دی
دعا ختموم چه:

به جلال تو که در دل
دگر آرزو ندارم
بجز این دعا که بخشی
به کبوتران عقابی

زوندی دې وی پښتونستان او
تل دی وی افغانستان.

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه ـ د کریاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نثرونه د محمددین ژواك تدوین یوجلد په (۱۲) افغانی

۷: پریشانه افکار: د ښاغلی بینوا اثر یو جلد په (۱۰) افغانی

۸: نړۍ په دوه زړم کال کښې د ښاغلی واسعی ترجمه

۹ : افغان قاموس دوهم ټوك ....

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خواږه ادب ادبی ننده ماتوی .

دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ پوازینې وسیله ده.

دا مجله د نیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوی.

تاسې کولای شئ چه د اتنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د تنه هیواد کښې

په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلدارې په نورو دباندنیو هیوادونو کښې

په (۳) دالره ماته کړئ

د پیوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې د مدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په

ولایاتو کښې د همدی مؤسسې د جاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه